احترازی مثال: خطيئة او مقروء ة دي د لته ترهمزي مخکي مده واو اوياء مخکي په يوه کلمه کي دي.

اتفاقي مثال: د يَسْئَلُ څخه يسل ويل واجب دي.

امثله: قَدْ اَفْلَحَ،يَسَلُوْنَ،اَلَمْ تَرَ،مُرْءٍ، مُرٍ، يَرٰى،يَرَوْنَ.

(۱ـ فائده:)

مرآة شاذ دي وجه يي داده چي مرآة په اصل کي مرء ة وو د قانون تقاضا داوه چي دهمزي حرکت به نقل کړي ما قبل ته به يي ورکړي اوهمزه به يي حذ ف کړي نومرة به ځني جوړسي خود لته يي دهمزي د حرکت د نقل کيدو وروسته يي همزه د حذ ف کيدو پرځاي شاذا په الف سره بدل کړي.

(۲ـ فائده:)

درؤيت د مادي فقط په افعالو کي دا قانون وجوبي جاري کيږي هغه که مجرد وي لکه: رأي يرآي اوکه مزيد وي لکه : ارى يري او رؤيت د مادو په اسماؤ کي دغه قانون جاري کول جائز دي واجب دي نه دي لهذا مرء او مر دواړه جائز دي.

(اجراء يا گردان داقسامو)

يَسَلُ:

سوال: په سه اقسام کي څه شي ده ؟الجواب: فعل دي.

سوال: علا مه د فعل پکښي څه ده ؟الجواب: مضارع ده .

سوال: په ددو اقسام دفعل کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه دي؟الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مهموز دي.

سوال: په سه اقسام د مهموز کي څه دي ؟الجواب: مهموزالعين دي.

سوال: په دوزدا ه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مضارع ده .

سوال: په دوو اقسام د مضارع کي څه شي دي؟ الجواب: معلوم ده .

سوال: په سه اقسام د معلوم کي څه شي دي؟ الجواب: غائبه ده .

سوال: په د دو اقسام دغائب کي څه شي دي؟ الجواب: مذ کر دي.

سوال: په سه اقسام د مذ کر څه شي دي؟ الجواب: صيغه د واحد مذ کر فعل مضارع معلومه ده.

نوټ: "يسلُ" د منع د باب مضارع ده سَئَلَ يَسْئَلُ سُؤالاً معنى سوال کول.

قد افلح:

سوال: په سه اقسام کي څه شي ده ؟الجواب: فعل دي.

سوال: علامه د فعل پکښي څه ده ؟الجواب: ماضي ده .

سوال: په ددو اقسام د فعل کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه دي؟الجواب: مزيد فيه دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: صحيح دي.

سوال: په دوزدا ه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: ماضي قريبه ده .

سوال: په دوو اقسام د ماضي کي څه شي دي؟ الجواب: معلوم ده .

سوال: په سه اقسام د معلوم کي څه شي دي؟ الجواب: غائبه ده .

سوال: په ددو اقسام دغائب کي څه شي دي؟ الجواب: مذ کر دي.

سوال: په سه اقسام د مذ کر څه شي دي؟الجواب: صيغه واحد مذ کر فعل مضارع معلومه ده.

نوټ: افلح د اکرم د باب ما ضي ده افلح يُفلِحُ اِفْلاحًا، فلاح معنى د تکالفو څخه خلاصون ته وايي او نجات ورکول، بقا ترلاس کول.

Maktaba Tul Ishaat.com

يرى:

سوال: په سه اقسام کلمي کي څه شي ده ؟الجواب: فعل دي.

سوال: علامه د فعل پکښي څه ده ؟الجواب: مضارع ده .

سوال: په ددو اقسام دفعل کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه دي؟الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مهموز دي.

سوال: په سه اقسام د مهموز کي څه دي ؟الجواب: مهموزالعين او ناقص يايي دي.

سوال: په دوزدا ه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مضارع ده .

سوال: په دوو اقسام د مضارع کي څه شي دي؟ الجواب: معلوم ده .

سوال: په سه اقسام د معلوم کي څه شي دي؟ الجواب: غائبه ده .

سوال: په د دو اقسام دغائب کي څه شي دي؟ الجواب: مذ کر دي.

سوال: په سه اقسام د مذ کرکي څه شي دي؟الجواب: صيغه واحد مذ کر فعل مضارع معلومه ده.

نوټ: "يرى" د منع د باب مضارع ده رأى يرى رؤية معنى ليد ل.

۶ـ قوله: قانون هرجا که دوهمزه متحرک دریک کلمه بهم آیند الخ)

ترجمه: هرځاي چي دوي همزه ګاني متحرکه په يوه کلمه کي را سي که چيري يوه د دوي دوو څخه مکسوره وه نو دوهم همزه په ياء سره بدله کړه مثال لکه : أَيِمَّةٌ" وجَاءٍ" پريوه د دوو قولو او که يوه پکښي مکسوره نه وه نو دوهمه همزه په واو سره بد له کړه مثال لکه : أُوا دم، "أُويِدِمُ" ليکن دغه اعلا ل جا ئز دي په مثال د"آيمة " کي لازم دي په ما سوى کي او هرچي اعلال د کل او خذ لزوما او د مر جوازاً نادر او لږ دي.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه:۱ـ تحقيق.۲ـ د أيمةٌ او جاءٍ فرق. ۳ـ د قانون حکم.۴ ـ د قانون شرايط.۵ـ د قانون امثله. ۶ـ اجراء يا ګردان داقسامو.

اول بحث تحقيق:

پوسه مصنف د دي قانون په بيان کي د جهمور نحاتو پر پله تللي دي کنه نو محقيقن وايي چي دوي متحرکه همزي په يوه کلمه کي يو ځاي راسي که دوهمه د لام د کلمي په مقابله کي وه د هغي په ياء سره بدلول وا جب دي او که دوهمه مکسوره او ما قبل يی مفتوح يا مکسور وي هم بايد په ياء بد له سي او که يی ما قبل مضموم وي نو د سيبويه په نيز بايد په ياء سره بد له سي او د اخفش په نيز په واو سره او که دوهمه مضمومه وي او ما قبل يي هم مضمومه او يا مفتوح وي په واو سره بد ليږي او که يي ما قبل مکسوره وي د سيبويه په نيز بايد په واو او د اخفش په نيز بايد په ياء سره بد له سي او که دوهمه همزه مفتوحه او ما قبل يي مضمومه وي بايد په واو که مکسوره وي په ياء بد له سي او که مفتوح وي بايد په واو سره او د ما زني په نيز په ياء سره بد ليږي.

قوله على احد القولين: يعني د دي قاعدي د پاره په جاء سره مثال ويل دا يو اځي پر يوه قول بناء دي اتفاقي خبر نه ده ځکه نو دا " على" بنا ئيه بولي اوس د مصنف دا قول على احد القو لين دوه احتماله لري:١ـ يو دا چي سيبويه او خليل د قول څخه يو مراد دي چي هغه د سيبويه قول دي.

٢ـ د ا چي د خليل د دوو قولو څخه يو مراد دي ځکه د خيل خپله مشهور قول د سيبويه قول ته رجوع روايت سوي ده ځکه د ده څخه حکايت سوي چي کله په يوه کلمه کي دوي همزي يو ځايي راسي د دوهمي تخفيف غوره کيږي لکه جاءأُ او ءُآدم نو ده حکم وکړي چي د جاءيٌ يا ء د همزي څخه منقلبه ده او دا عيناً د سيبويه مذهب دي نو په احد القولين سره د ده هغه قو ل مراد دي چي د روجوع ورته کړي خو د دي دواړو توجيه ګانو مأل يو دي.

نوټ: دغه مذ کر اختلاف چي ذ کر دي د ا يوا ځي تعلق د جاءٍ سر لري او د آيمةٌ سره يي نه لري.

او ما اعلال کل وخذ لزوما داعلال مرجوازاً شاذست: د دي عبارت تعلق د آمن او اوجب ايسر د قانون سره دي او دا جواب د سوال مقدر دي اصل سوال دا ركم دي چي ستا قانون خومات سو په مثل د کل خذ او مر ځکه دا په اصل کي اُأْکل او "اُأْ خذْ" او "اُأْمر" وو او سر ه د دي چي دوهمه همزه يي په واو سره نه کړه بد له نو مصنف جواب ورکړي؟

حاصل د جواب: دا دي چي دا شاذ دي حذ ف کول د دوهمي همزي خلا ف القياس دي ځکه دا سي قانون نه وو پکښي چي د دوهمي همزي د حذ ف کول تقاضا وکړي، نو د دوهمي همزي حذ ف کول خلاف

Maktaba Tul Ishaat.com

القياس دي او وروسته يي اوله همزه حذ ف کړل ځکه دهغي څخه استغناء راغله ځکه حاجت به هلته ورته وو چي تردي وروسته حرف ساکن وايي، نو دغه دواړي همزي حذف کول شاذ دي او دغه شاذ په کل او خذ کي وجوبي دي او "مر" کي جوازي دي.

فرق يي دا دي چي په کل او خذ کي وجوبي دي او په مرکي جوازي ځکه کل او خذ کثير الاستعماله دي او مر لږ استعماليږي.

ديوي غلطي ازاله: ځيني طالبان دا ګومان کوي چي شذوذ په دي کي دي چي "أاخذ" يی لازم الاعلا ل او "مر" يي جا ئز الاعلا ل ګرځولي دي او قياس د ا ده چي لازم الاعلا ل او يا جائز الاعلا ل وايي خو دا ګمان سره د دي چي في نفسه فاسد دي د متن د ظاهري عبارت خلاف هم دي.

خلا صه دا چي دا شذوذ په اصلي اعلا ل کي دي نه په لزوم او جواز کي.

دوهم بحث فرق د أيمّة او جاءِ: الاعلال جا ئز في نحو ائمة ولازم في غيرالخ: دا عبارت د يو سوال جواب دي.

سوال: دا دي چي ظاهر د مصنف کلام د دي تقاضا کوي چي ايمة او جاء به په اعلال کي سره برابر وي يعني يا به په دواړو کي جا ئز وي او يا به واجب

نو حاصل د جواب دا دي چي د دوي په ما بين کي فرق سته اعلا ل ايمة کي جا ئز دي او په جاءٍ کي وا جب دي ځکه په "أأمّةٌ" کي د دوهمي همزي په مشهور ډول بين بين والي د قراو څخه صحيح دي اود دواړوهمزو تحقق هم صحيح دي اوهمزه په ياء سر نه ده بدله سوي مګر د ځينو قاريانو په نيز او په شافيه کي دا هم سته چي په "أأمة " کي په صريحه ياء سره د دوهمي همزي قلب په هيڅ يو قرائت کي نسته.

(۶- أُوَيْدمٌ او جَاءٍ او شَاءٍ او أَأْممة قانون:)

د دي قانون د پاره دري حکمونه دي او د هر حکم د پاره څلور څلور شرطونه دي:

۱- حکم: دوهمه همزه په ياء سره بد لول واجب دي.

۱- شرط: دوي همزګاني به وي، احترازی مثال: سئل دي د لته يوه همزه دي.

۲- شرط: دواړي همزي ګاني به متحرکه وي ،احترازی مثال:اء من دي دلته دواړي متحرکه نه دي.

۳- شرط:د واړي همزه ګاني به په يوه کلمه کي سره جمعه سوي وي،

احترازی مثال:یقرء ابو ک دي د لته په یوه کلمه کي نه دي.

۴۔ شرط: دواړو همزه ګانو څخه به یوه مکسوره وي ،

احترازي مثال:اء ید م دي د لته یوه لا هم نه ده مکسوره.

اتفاقي مثال: د جَاءِءٌ او شَاءِءٌ څخه جَاءِيٌ شَاءِيٌ ویل بیا د یدعو او یرمي په قانون سره جَائِيْن او شائین سول بیا دالتقاء ساکنین په قانون سره جاء شاء سول .

۲۔ حکم:دوهمه همزه په واو سره بد لول واجب دي.

اول دري شرطونه یي د مخکي حکم په شان دي.

۴۔ شرط:د دواړو همزه ګانو څخه به یوه هم نه وي مکسوره،

احترازي مثال: جا ء ء دي د لته یوه مکسور دي.

اتفاقي مثال: اَءَ ا دِ مُ او اُاَيْدِمُ څخه اَوَادِمُ اُوَيْدِمُ ویل واجب دي.

دریم حکم: دوهمه همزه په یاء سره بد لول جائز دي.

اول دری شرطونه یي داول حکم په شان دي ،

څلرم شرط: د دواړو همزو څخه به یوه مکسور وي په کسره یي عاریضي سره.

اتفاقي مثال:ایِمَّةٌ په اصل کي اَاْ مِمَةٌ وو نو د میم کسره یی نقل کړل وساکني همزي ته نو اَ اِمْمَةٌ سو بیا ادغام د اول میم په دوهم میم کي وسو اَاِمَّةٌ سو بیا د قانون مطابق دوهمه همزه په یاء سره بد له سوه جوازاً اَیِمَّةٌ سو.

امثله:اَوَادِمُ، بَاءٍ، ضَاءٍ، اَوَائِلُ، اُوَيْدِ مُ،طَاءٍ،فَاءٍ، اَوَاخِرُ، اَوَاثِرُ، اَوَادِبُ.

(فا ئده:)

ائمة په اصل کي اء مة وو د میم حرکت یي نقل کړي ما قبل ته یي ورکړي او میم یي په میم کي مدغم کړی ائمة ځندي جوړ سو .

سوال: په االکرم کي د دوهم حکم ټول شرطونه موجود دي قانون ولي نه جاري کیږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب:شاذ يي دوهمه حذ ف کړل د کثرت الاستعمال په وجه .

(اجراء يا ګردان داقسامو)

جاءٍ:

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي ده ؟الجواب: اسم دي.

سوال: علامه د اسم پکښي څه ده ؟الجواب: تنوين دي .

سوال: په سه اقسام د اسم کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه دي؟الجواب: مزيد فيه د دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مهموزاللا م او نا قص ياي دي.

سوال: په دوزداه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: اسم فاعل دي .

سوال: په چهارده اقسام کي څه شي دي؟الجواب: صيغه د واحد مذ کر اسم فاعل.

اَو اَدِ مُ:

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي ده ؟الجواب: اسم دي.

سوال: علا مه داسم پکښي څه ده ؟الجواب: جمع دي .

سوال: په سه اقسام د اسم کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه دي؟الجواب: مزيد فيه د دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مهموز دي.

سوال: په سه اقسام د مهموز کي څه دي ؟الجواب: مهموزالفا ء دي.

سوال: په دوزداه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: اسم فاعل دي .

سوال: په چهارده اقسام کي څه شي دي؟ صيغه جمع مؤنث اسم فاعل.

اُوَيدِ مُ:

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي ده ؟الجواب: اسم دي.

سوال: علامه د اسم پکښي څه ده ؟الجواب: تصغير دي .

سوال: په سه اقسام د اسم کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه دي؟الجواب: مزيد فيه د دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مهموز دي.

سوال: په سه اقسام د مهموز کي څه دي ؟الجواب: مهموزالفا ء دي.

په دوزداه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: اسم فاعل دي .

سوال: په چهارده اقسام کي څه شی دي؟ الجواب: صيغه دواحد مذ کر مصغر اسم فاعل ده.

نوټ: اَوادُمُ :جمع دآدم ده او اُوَيدمُ تغصير د آدم ده د اکرم د باب څخه که څه هم اختلاف پکښي دي خو بيا هم دهغه جواب څلرم نمبر حاشي ورکړي دي.

جائزٌ:

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي ده ؟الجواب: اسم دي.

سوال: علا مه د اسم پکښي څه ده ؟الجواب: تنوين دي .

سوال: په سه اقسام د اسم کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه دي؟الجواب: مجرد د دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: اجوف دي.

سوال: په دوزداه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: اسم فاعل دي .

سوال: په چهارده اقسام کي څه شي دي؟الجواب: صيغه دواحد مذ کر اسم فاعل ده.

نوټ: جائزٌ: د ضرب د باب اسم فاعل دي جَوَزَ" يَجِوْزُ جوْزاً، فهو جاوِزٌ بيا په هر صيغه کي د خپل قانون مطابق اعلال وسو بيا نو جاز يجيز جوزاً فهو جائزٌ سو.

کل وخذ مُرْ:

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي ده ؟الجواب: فعل دي.

سوال: علامه د فعل پکښي څه ده ؟الجواب: امرده .

سوال: په دوو اقسام دفعل کي څه شي دي؟الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟الجواب: مهموز دي.

سوال: په سه اقسام د مهموز کي څه شي دي ؟الجواب: مهموزالفاء دي.

سوال: په دوزداه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: امرونه ده.

سوال: په چهارده اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: صيغي د واحد مذ کر امر حاضر معلوم دي .

د مهوز بيان خلا ص سو بالخير. وخت ۱۳۹۳ـ ۴ـ ۸ .

هم دغه اوس تاريخ چي تنقيح او تهذ يب يي وسو دا دي: ۱۳جوزا،۱۴۰۰. مطابق: ۲۲ شوال، ۱۴۴۲.

قوله : صرف المعتل بدا نکه معتل بردو نوع ست معتل بيکحرف ومعتل بدو حرف الخ)

ترجمه: صرف المعتل هذا او هذا صرف المعتل اويا په وقف سره ادا کيږي د فصل اود باب په ډول،

پوسه: اي طالبه چي معتل پر دوه قسمه دي: ۱ـ په يو حرف علت سره معتل وي.۲ـ په دوو حروفو علتو سره معتل وي.

او اول بيا پر د ري قسمه دي:۱ـ معتل الفاء.۲ـ معتل العين .۳ـ معتل اللا م .

دوهم: هغه دي چي معتل په دوو حرف علتو سره وي او د ا بيا پردوه قسمه دي: ۱ـ هغه دي چي حروف علت يي سره يو ځاي راغلي وي، مثال لکه : "يَوْمٌ " او يا "حَيِيٌ" اول مثال د دي دي چي د فاء او عين په مقابله باندي حرف علت راغلي وي، اود وهم د دي مثال دي چي د عين اولام پرمقابله باندي حرف علت راغلي وي، او د يته لفيف مقرون هم وايی.

۲ـ هغه دي چي حروف علت يي جلا جلا سره راغلي وي مثال لکه :"وَحْيٰ" او يا "وَجٰی" او دغه ته لفيف مفروق هم وايي .

او يو د ريم قسم د معتل هم سته چي مصنف نه دي ذ كر كړي چي هغه معتل په د رو حروف علتو سره وي مثال لكه : "يَيْيَتُ ياءً" "وَوَّيْتُ واوً" دغه مثالونه د قلت په وجه مصنف نه كړل ذ كره.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د درو شيانو :١ـ تحقيق.٢ـ د ځينو لغاتو معنى.٣ـ اجراء يا گردان د اقسامو.

اول بحث تحقيق: كله چي مصنف عليه رحمه د مهموز د بيان څخه فارغ سو نو يي شروع وكړل په بيان د معتل او معتل پر دري قسمه دي:

(د معتل تعريف او تقسيم)

معتل تعريف:هغه كلمي ته وايي چي پدي كي حرف علت راغلي وي .

ثم اعلم: معتل پر دري قسمه دي:١ـ معتل په يوه حرف سره .٢ـ معتل په دوو حروفو سره .

٣ـ معتل كل .

(د مثال تعريف او تقسيم او وجه د نامه)

د مثال تعريف:هغه كلمي ته وايي چي د فاء پر مقابله يي حرف علت راغلي وي .

سوال: مثال پرځوقسمه دي؟ جواب:پر دوه قسمه دي:١- مثال واوي.٢ـ مثال يايي.

د مثال واوي تعريف:هغه دي چي د فاء پر مقا بله يي واو راغلي وي لكه:"وَعَدَ" پر وزن د فَعَلَ .

د مثال ياي تعريف : هغه دي چي د فاء پر مقابله يي ياء راغلي وي لكه :"يَسَرَ" پر وزن فَعَلَ.

وجه د نامه: مثال ته ځكه مثال وايي چي مثال معنى هم مثل نودي هم د قلت تعليل په وجه د صحيح هم مثل دي.

(داجوف تعريف او تقسيم او وجه د نامه)

د اجوف تعريف: هغه كلمي ته وايي چي دعين پر كلمه باندي حرف علت راغلي وي .

سوال:اجوف پر څو قسمه دي؟ جواب:پر دوه قسمه دي:١- واوي .٢- ياي.

د اجواف واوي تعريف :هغه دي چي دعين پر كلمه باندي واو راغلي وي لكه:"قَوْلٌ" پروزن فَعْلٌ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د اجوف ياي تعريف:هغه دي چي دعين پر كلمه باندي ياء راغلي وي لكه : "بَيْعٌ" برزون فعل.

وجه د نامه: اجوف ته ځكه اجوف وايي چي اجوف معنى خالي نسي چونكي په دي كي هم دعين په مقابله كي حرف صحيح نه وي.

(د ناقص تعريف او تقسيم او وجه د نامه)

د ناقص تعريف:هغه كلمي ته وايي چي دلام پر كلمه يي حرف علت راغلي وي.

سوال: ناقص پر څو قسمه دي؟ جواب:پر دوه قسمه دي:١- واوي.٢- ياي.

د ناقص واوي تعريف :هغه دي چي دلام پر كلمه باندي واو راغلي وي لكه :"دَعَوَ" پروزن فَعَلَ.

د ناقص ياي تعريف:هغه دي چي دلام پر كلمه باندي ياء راغلي وي لكه :"رَمىٰ" بروزن فَعَلَ.

وجه د نامه: ناقص ته ځكه ناقص وايي چي ناقص د نقصان څخه دي او په دي كي هم دلام په مقابله كي حرف علت راځي كم چي د تعليل په سبب يا ساقطيږي اويا تبد ليږي نو په كلمه كي تاوان پيدا كيږي.

سوال:مثال الفي او اجوف الفي او ناقص الفي ذ كريي ولي وه نه كړي؟

جواب:صاحب د د ستورالمبتدي يوه قاعده ذ كركړي ده چي په افعال متصرفه او اسماء متمكنه كى هيڅكله الف اصلي نه راځي بلكي دي به د "واو" او"ياء" څخه بد ل سوي وي، اجوف الفي او ناقص الفي راتلا ي سي ،ليكن په استعمال كي نسته.

معتل په دوو حروف سره

(د لفيف تعريف او تقسيم او وجه د نامه)

د لفيف تعريف:هغه كلمي ته وايى چي دوه حروف علت پكښي راغلي وي.

سوال: لفيف پر څو قسمه دي؟ جواب:پر دوه قسمه دي:١- مقرون.٢- مفروق.

د لفيف مقرون تعريف:هغه دي چي دوه حروف علت سره متصل وي لكه :"طيٌ" او "طوى".

د لفيف مفروق تعريف:هغه دي چي دوه حروف علته سره متصل نه وي لكه :"وشيٌ" "وشيَ".

وجه د نامه: لفيف ته ځكه لفيف وايي چي لفيف معنى پيچل سوي چونكي د دي اكثره حروف

حرف علت وي نو ګويا کلمه پر حرف علت باندي پيچل سوي ده.

سوال: د لفيف فوق الذ کر تعريف د (وَيْلٌ او يَوْمٌ) غوندي کلماتو باندي نه صاد يقيږي سره د دي چي دغه کلماتي هم د مقرون د جملي څخه دي؟

جواب:د لفيف مقرون فوق الذ کر تعريف اکثري دي کلي نه دي، په اصل کي تعريف دا ډول دي لفيف مقرون هغه کلمه ده چي په دي کي بلا فصل دوه حرف علته راغلي وي اوهغه دواړه به اصلي هم وي.

(د معتل کل تعريف)

د معتل کل تعريف: هغه دي چي حروف اصلي يي ټول حروف علت وي خو دغه په کلا مي عربي کي نه دي مستعمل لکه "وَايٌ".

(اجراء يا ګردان داقسامو)

"يَيْيْتُ"، "وويْتُ":

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي دي؟ الجواب: فعلونه دي.

سوال: علا مه دفعل پکښي څه شي دي؟ الجواب: ما ضي ده .

سوال: په دوو اقسام د فعل کي څه شي دي؟ الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: معتل کل دي.

په دوز دا ه اقسام کي څه شي دي؟الجواب: ما ضي دي.

سوال: په دوا قسام د ما ضي کي څه شي دي؟ الجواب: معلوم دي.

سوال: په سه اقسام د معلوم کي څه شي دي؟ الجواب: متکلمي دي.

سوال: د متکلمي په دوو اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: صيغه د واحد متکلم فعل ما ضي معلوم دي.

قوله : صرف المثال الوا وي وعد يعد وعداً وعدةً الخ)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: د مثال واوي صيغي، "وعد" ما ضي معلوم ده ، "يعدُ" مضارع معلوم ده ، "وعداً" "وعدةً"، "وميعاداً"، دا مصدورنه دي "وا عدٌ" اسم فاعل دي، "وُعدَ" ما ضي مجهول ده، "يُوعَدُ" مضارع مجهول ده "وعدا" "وعدةً،" "ومعياداً"، دا مصدرونه دي. او "موعُودٌ" اسم مفعول دي ،او امر دد غه باب "عِدْ" دي، او نهي د دي باب "لا تعدْ" دي

او مصنف وايي صيغي د مثال د صحيح سره برابر دي مګريوځو ځايه سره مخالف دي چي ذ کر به سي.

تشريحات: د لته لابد ده د پيژند لو څخه د دو شيانو:١ـ تحقيق.٢ـ اجراء يا ګردان.

اول بحث تحقيق: کله چي مصنف د معتل د اجمالي بحث څخه فارغ سو ،

اوس يې شروع وکړل په بيان د معتل تفصيلي نو مصنف وويل صرف مثال واويي.

سوال: مصنف معتل په يوه حرف سره مخکي کړي ترمعتل په دوو حروف سره؟

الجواب: ځکه معتل په يو حرف سره په هغه کي يو حرف علت وي او معتل په دوو حروف سره په هغه کي دوه حرف علت وي نو يو مخکي تردوو دي.

سوال: مثال يي ولي مخکي کړي تر باقي معتلا تو؟

الجواب: ځکه مثال د يته وايي چي د فاء پر مقابله يې حرف علت وي او فاء کلمه مخکي ده ترعين او لام کلمي.

سوال: مثال واوي يي ولي ترمثال ياي مخکي کړي؟

الجواب: مثال واوي کثر الاستعمال دي العزة للتکا ثر.

پو سه: چي مثال واوي د پنځوبابو څخه راځي: ١ـ د " ضرب يضرب" د باب څخه لکه:" وعد يعدُ"،

٢ـ د" فتح يفتحُ" د باب څخه ، لکه :"وَهَبَ يَهْبُ".٣ـ د "سمع، يسمعُ" د باب څخه لکه:" وجل يو جلُ"، ۴ـ د "کرم ، يکرمُ" د باب څخه لکه:" وجُه يو جُهُ". ۵ـ د"حسب، يحسب" لکه:" ورم، يرمُ".

قوله: مګر د رچند جا که: د ا عبارت د سوال جواب دي.

سوال: دا دي چي مصنف وويل چي مثال د صيحيح سره برابر دی نو بيا ذ کر ولي کړي نو مصنف جواب ورکړي؟

الجواب: دا چي يو څو ځاي سره مخالف دي هغه به ذ کر کړو.

سوال: په تصريف کي مصدر ولي دوه واره ذ کر کيږي؟

الجواب: ځکه چي د مصدر نسبت وفاعل ته وسي نو مصدر معلوم او مبني للفاعل ورته وايی، او چي مفعول ته يي نسبت وسي نو بيا مصدر مجهول او مبني للمفعول ورته وايي نو ځکه مکرر يي ذ کرکوي.

سوال: "ميعادٌ، عدةٌ ، عدْ ،لا تعدْ، يعد" څنګه د مثال وا وي مثالونه کيدي سي ځکه په دوی کي واو نسته؟

الجواب: ځکه دوي د مثال واوي مثالونه دي چي د دوي په اصل کي واو سته.

دوهم بحث اجراء يا ګردان د اقسامو:

"وعد، وُعِدَ"

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي دي؟ الجواب: فعلونه دي.

سوال: علا مه د فعل پکښي څه شي دي؟ الجواب: ما ضي ده .

سوال: په دوو اقسام د فعل کي څه شي دي؟ الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: معتل دي.

سوال: په سه اقسام د معتل کي څه شي دي؟ الجواب: مثالونه دي.

سوال: په دوو اقسام د مثال کي څه شي دي؟ الجواب: مثال واوي.

سوال: په دوز دا ه اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: ما ضي دي.

سوال: په دو ا قسام د ما ضي کي څه شي دي؟ الجواب:اوله معلومه ده او دوهمه مجهوله ده.

سوال: په سه اقسام د معلوم اومجهولي کي څه شي دي؟ الجواب: غائبي دي.

سوال: د غائبي په دوو اقسام کي څه شي دي؟ الجواب:مذ کر .

سوال:دمذکرپه سه اقسام کي څه شي دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: صيغه د واحد مذ كرغائب فعل ما ضي معلومه ده اوله او دوهمه بيا مجهوله ده.

يعدُ يُوْعدُ:

سوال: په سه اقسام د كلمي كي څه شي دي؟ الجواب: فعلونه دي.

سوال: علا مه د فعل پكښي څه شي دي؟ الجواب: مضارع ده .

سوال: په دوو اقسام د فعل كي څه شي دي؟ الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام كي څه شي دي؟ الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام كي څه شي دي؟ الجواب: معتل دي.

سوال: په سه اقسام د معتل كي څه شي دي؟ الجواب: مثالونه دي.

سوال: په دوو اقسام د مثال كي څه شي دي؟ الجواب: مثال واوي.

سوال: په دوز دا ه اقسام كي څه شي دي؟ الجواب: مضارع دي.

سوال: په دو ا قسام د مضارع كي څه شي دي؟ الجواب:اوله معلومه ده او دوهمه مجهوله ده.

سوال: په سه اقسام د معلوم اومجهولي كي څه شي دي؟ الجواب: غائبي دي.

سوال: د غائبي په دوو اقسام كي څه شي دي؟ الجواب:مذ كر .

سوال:د مذ كرپه سه اقسام كي څه شي دي؟

الجواب: اوله صيغه دواحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم ده، او دوهمه بيا مجهوله ده.

"ودعداً، عدةً، ميعاداً:

سوال: په سه اقسام د كلمي كي څه شي دي؟ الجواب: اسمونه دي.

سوال: علا مه د اسم پكښي څه شي دي؟ الجواب: تنوين دي.

سوال: په سه اقسام د اسم كي څه شي دي؟ الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام كي څه شي دي؟ الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مثال واوي دي.

سوال: په دوزداه اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مصدورنه دي.

واعدٌ، موعُودٌ:

سوال په سه اقسام د کلمي کي څه شي دي؟ الجواب: اسمونه دي.

سوال: علا مه د اسم پکښي څه شي دي؟ الجواب: تنوين دي.

سوال: په سه اقسام د اسم کي څه شي دي؟ الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مثال وا وي دي.

سوال: په دوزداه اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: واعدٌ اسم فاعل دي او موعودٌ اسم مفعول دي.

سوال: په چهارداه اقسام کي څه شي دي ؟ الجواب: صيغي د واحد مذ کر اسم فاعل او مفعول دي.

"عدْ لا تعدْ:

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي دي؟ الجواب: فعلونه دي.

سوال: علا مه د فعل پکښي څه شي دي؟ الجواب: امر او نهي ده .

سوال: په دو اقسام د فعل کي څه شي دي؟ الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مجرد دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مثال وا وي دي.

سوال: په دوز دا ه اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: امر او نهي دي.

سوال: په چهار ده اقسام کي څه شي دي؟

الجواب: عد صيغه د واحد مذ کرامر حا ضر معلوم ده،او "لاتعدْ" صيغه دواحد مذ کرمخاطب نهي ده.

قوله: اول آنکه هروا وي که ميان ياء وکسره لازمي باشد وحرکت يا مخالف الخ)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: اول د هغه ځایو څخه چي مثال د صحیح څخه مخالف وي هغه دا دي، پوسه ای طالبه چي هروا و چي په مابین د "یاء" او د "کسري لازمي" کي وي او د "یا" حرکت د "واو" څخه مخالف هم وي یعني ضمه نه وي نو د غه واو وغور ځوه لکه "یعد" چي په اصل کي "یوعدُ" وو واویي وغور ځوي یعدُ سو.

تشریحات: د لته که څه هم مصنف صراحتاً قانون نه دي ذ کرکړي خو مونږ یي د اساني د پاره ذ کر کوو د لته لابدي ده د پیژند لو څخه د درو شیانو:

۱ـ د قانون حکم.۲ـ د قانون شرایط.۳ـ مثالونه.

(۷ـ د یعد قانون)

د دي قانون د پاره یو حکم او د شرطویي دري جماعتونه دي اودهر جماعت د پاره دوه دوه شرطونه دي.

اول او دوهم او دریم بحث:

حکم: په فعل مضارع معلومه کي د فاء د کلمي حذ ف کول واجب دي.

جماعت:اول شرط: د مثال واوی باب به وي ،احترازي مثال: یسر دي د لته دا یاي دي.

۲ـ شرط:د مَنَعَ اویَمْنَعُ پروزن باندي به وي ،احترازي مثال:وسم یوسم دي دا د منع یمنع پر وزن باندي نه دي.

اتفاقي مثال: د وَضَعَ یَوْ ضَعُ څخه یَضَعُ ویل واجب دي.

۲ـ جماعة:اول شرط:د مثا ل واوي باب به وي،احترازي مثال:یسر دي .

۲ـ شرط: داسي باب به وي چي ما ضي یي کمه استعما لیږي، احترازي مثال:وسم یوسم دي.

اتفاقي مثال:د یَوْزِرُ او یَوْ دِعُ څخه یَذَرُ او یَدَعُ .

۳ـ جماعة: اول شرط:د مثال واوی باب به وي ،احترازی مثال الخ.

۲- مضا رع به مکسور العین وي،احترازي مثال:وسم یو سم دي د لته مضارع مضمومه العین ده .

اتفاقي مثال: د یَوْعِدُ یَوْرِمُ څخه یَعِدُ یَرِمُ ویل واجب دي.

امثله: يَعِدُوْنَ ،تَضَعِيْنَ، اَضَعُ، تَزِرُ،يَسَعُ، يَطِئُوْنَ، تَعْدِ يْنَ،لَمْ يَضَعْ، عِدْ.

۱ـ فائده

:مضارع به مکسور العين ماضي عامه ده که مکسوره العين وي اوکه مفتوح العين.

۲ـ فائده

:دعلم يعلم پر وزن باندي دوه داسي بابونه سته چي سماعا يی په مضارع کي د فاء کلمه

حذف سوي ده هغه دوه بابونه دادي :۱ـ وسع يو سع ځخه يسع،۲ـ وطئ يوطئ ځخه يطئُ .

قوله : ود ر يوجل واو نيفتاد زيراک ميان ياء وکسره لازمي نيست الخ)

ترجمه: په يو جل کي واو نه وغور ځيدي ځکه چي په ما بين د ياء او کسره لازمي کي نه دي بلکي د فتحي او ياء په مابين کي دي او هرچي "يهب" دي په اصل کي "يوهبُ" وو "واو" يي وغورځوي "يهب" سوه وروسته دعين د کلمي کسره يي په فتحي سره بد له کړل د پاره د رعايت د حرف حلق چي حرف حلق ثقيل دي او کسره هم ثقيل ده او فتحه خفيف ده نو "يهبُ" سو او "يعدُ" کي پر خپل اصل پريښول سو د دي د پاره چي پر اصل باب دلالت وکړي، او "يَذَرُ" کي (کسره په فتحي بد له کړل) چي دي محمول دي پر "يد عُ" باندي او په "يوجب" کي "واو" ونه غورځوي ځکه چي حرکت د ياء د واو موافق دي چي کله يي د "يعدُ" ځخه واو وغورځوي نو "تعد، اعدُ ، نعدُ" ځخه يي هم وغورځوي چي د باب حکم مختلف نه سي.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو ځخه دوو شيانو:۱ـ تحقيق.۲ـ سوال او جواب.

اول بحث تحقيق: "ميان" په کسره د ميم وسط، ما بين د کناري ضد، ملا او د توري تيکي ته وايي.

"فکنند " د حذ ف او غورځولو په معنی دي.

د کسري، تغير د دروشيانو د پاره وي:۱ـ د ا چي د عين يا دلام کلمه يی حرف حلق وي.

۲ـ د خپلو اخواتو د متابعت په خا طر لکه:" يَذَرُ" چي اصل يي "يَذِرُ" وو خو د"يَدَعُ" په منا سبت مفتوح العين وويل ځکه هم لفظي او هم معنوي منا سبت سره لري ، لفظي دا چي دوا ړي په عربي کلا م کي ماضي نه لري او معنوی دا چي دوا ړي د پريښولو (او خوشي کولو) په معنی دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳ـ د التقاء ساكنين د د فع د پاره لكه:" لم يَلْدَهُ" چي په اصل كي "لم يلَدَهُ "وو بيا د "كتفٍ "په منا سبت يي لام ساكن سو او دلام او دال ترما بين التقاء د ساكنين راغله دال ته يي فتحه وركړل "لم يَلْدَهُ" سو .

قوله: واما يذ ر محمول ست بريدعُ الخ:

پوسه: د لته د ري فائدي دي:۱ـ د ا چي حمل ده يو لفظ د بل سره شريكول په يو حكم د احكامو كي وروسته تر دي څخه چي د هغو لفظينو تر ما بين به په يوه وجه د وجوهو منا سبت وي لكه د لته چي د"يذر، يدع "سره د خپل ما بيني لفظي او معنوي منا سبت پربناء په يوه حكم كي شريک سوه چي هغه تغير د كسري دي وفتحي ته نو اوس "يذ ر" ته محمول او "يدعُ "ته محمول عليه او تغير د كسري ته محمول فيه او پخواني منا سبت ته وجه د حمل وا يي.

۲ـ فائده: د ا چي حمل د لفظ پر لفظ سما عي دي قياسي نه دي دا سي نه چي چيري يو لفظ د بل سره منا سب وَ وينو نو بس به يي ورسره شريک وو دِ ير طالبان ورځځخه غافله دي.

دوهم بحث سوال:

سوال: تا وويل چي كله واو د ياء او كسري په ما بين كي را سي دغه واو به حذ ف كوي نو په مالک يوم الد ين كي دي ولي نه دي حذ ف كړي؟

الجواب: د لته كسره موقيده د ه په قيد لازمي سره د لته د ميم كسره عارضي ده د اضافت په وجه لازمي نه ده.

سوال: موقيد كول د كسري دي په لازمي سره صحيح نه دي ځكه كسره د"يهب " "لم يلد" لا زمي نه دي بياهم واو حذ ف سوي دي اوځكه لا زمي نه دي چي په دي كي تغير كيږي او تغير په كسره عاريضي كي وي نه په لازمي كي؟

الجواب: زمورِ مراد د لزوم د كسري دا دي چي تغير به په سبب د عواملو پكښې نه راځي او په دي كي شک نسته چي په دي كسري كي په سبب د دخول د عواملو تغير نه راځي.

سوال: په "يو جل" كي دي واو ولي نه دي حذ ف كړي؟

الجواب: ځكه په مابين د ياء او كسري نه دي بلكي د ياء او فتحي كي دي.

سوال:په "يهب" كي خو واو په ما بين كي د ياء او كسري هم نه دي بيا دي ولي حذ ف كړي دي؟

الجواب: کسره عا مه ده چي لفظي تحقيقي وي لکه په "يعد" کي او که مقد ره وي لکه په "يهب" کي.

سوال: "يوهب" د "منع يمنع " د باب ځخه ده او که د "ضرب يضربُ" د باب ځخه که اول سي نو قول د مصنف چي "يو هِبُ" دي نه صحيح کيږي او که دوهم سي بيا د اکثرو علماوو قول نه صحيح کيږي چي دوي د"منع يمنع" ځخه يي بولي؟

الجواب: د باب ځخه د "منع يمنع" دي او قول د منصف صحيح دي او که چيږي قول د مصنف صحيح نه سي نو د"منع يمنع" باب على حده باب سي او سره د دي چي دا على حده باب نه دي.

سوال: په کار خودا وه چي "يهبُ" په کسره دعين وايي؟

الجواب: د لته کسره دعين په فتحه سره بد له سوه ځکه کسره پرحرف حلق وه هغه ثقيل وو او کسره هم ثقيل وه او فتح بيا خفيف ده رعايت د حرف حلق مو وکړي.

سوال: په "يعد" کي به مو هم رعايت د حرف حلق کړي وايي؟

الجواب: ځکه مو بد له نه کړه چي پر اصل باب باندي دلالت وکړي چي مکسوره العين دي يعني فعل مضارع د مثال واوي چي حلقي العين يا لام وي نو فاء کلمه يې حذ ف کوي او بيا مفتوح العين ګرځوي وروسته ترحذ ف د واو.

سوال: په "يذر" کي دي کسره د عين ولي په فتحي سره بد له کړل او سره د دي چي د لته خو حلق العين لام نه ده ؟

الجواب: دا محمول ده پر "يدع " باندي هغه حلقي العين دي.

سوال: په "يو جب" کي دي ولي واو نه کي حذ ف؟

الجواب: د لته د ياء حرکت د واو موافق دي چي ضمه ده.

سوال:د"تعد، اعد ، نعد" ځخه دي ولي واو حذ ف کړي؟

الجواب: کله چي په "يعدُ" کي واوحذ ف کړي نو په دوي کي موهم حذ ف کړي چي حکم د باب سره مختلف نه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

نوټ: "يَعِدُ" د ضرب د باب څخه ده" يَوْجَلُ" د علم د باب څخه ده "يُوْجِبُ" د "اِفعَال" د باب څخه دي "يذَرُ د"وزر يذِرُ وَزْراً" "يدع" د "وَدَعَ يَدَعُ وَدْعاً" څخه دي.

قوله : قانون هرواوي كه بجاي فا كلمه د رمصد ر بروزن فعلٌ اوفتد الخ)

ترجمه: هر واو چي د فاء پر ځاي په مصدر کي پروزن د فعلٌ وي او په مضارع کي حذف سوي وي روا ده چي دغه واو حذ ف کړي او په ا خيره کي تاء عوض را وړي ، مثال لکه : "عدةً او سَعَةً" او هرچي "وِجْهَةٌ" دي دا قليل دي يعني واو يي نه دي حذ ف کړي او تائي په اخيره کي راو ړي ده .

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لوڅخه د د روشيانو: ۱ـ د قانون حکم.۲ـ. د قانون شرايط.۳ـ امثله.

اول بحث.

(۸ ـ دعدة قانون)

د دي قانون دپاره يو حکم او څلور شرطونه دي:

حکم: د واو حرکت وما بعد ته ورکول او واو حذ ف کول اوبيا د حذف شده حرف عوض کي په اخرکي تاء متحرکه راوړل واجب دي. داقامة اواستقامة په قانون سره.

۱ـ شرط: واو به وي احترازي مثال: يسر دي دلته ياء ده.

۲ـ شرط: د فاء د کلمي په مقابله کي به وي،احترازي مثال:قول دي دلته دعين په مقابله کي دي.

۳ـ شرط:د مصدر صيغه به وي ،احترازي مثال:وزر او وتردي دلته د مصدر صغيه نه ده.

۴ـ شرط: مصدر به د فعل پروزن باندي وي ،

احترازي مثال:وصل دي د لته مصدرد فعل پر وزن باندي نه دي.

۵ـ شرط:واو به هم د دغه باب په مضا رع معلومه کي حذ ف سوي وي ،

احترازي مثال:وجل دي د لته په مضارع کي نه دي حذف سوي حُکه مضارع يي يوجل ده.

اتفاقي مثال: عدة دي چي په اصل کي وِعْدٌ وو په مذ کورقانون سره عِدٌ اوبيا داستقامة اواقامة په قانون سره عد ة ويل واجب دي.

امثله: صِلَةٌ،جِهَةٌ، سِطَةٌ، تِنَةٌ،سِعَةٌ، هِبَةٌ، زِنَةٌ، تِحَةٌ.

قوله: وعوض آن تاي تا نيث د رآرند:

ترجمه:هر حرف چي په مصد ر کي حذ ف سي بيله التقاء د تنوين نو په بدل کي تا په اخيره کي راو ړل وا جب ده .

تشريح: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د درو شيانو:١ـ دقانون حكم.٢ـ د قانون شرايط.٣ـ د قانون امثله

نوټ : دلته كه څه هم مصنف قانون نه دي ذ كر كړي خو موږ د اسانتيا د پاره قانون ذ كر كړي..

(٩ـ داقامة او استقامة قانون)

د دي قانون د پاره يوحكم او دوه شرطونه دي.

حكم: په مصدر كي د حذ ف سوي حرف په عوض كي تاء متحركه راوړل واجب دي.

١ـ شرط:حرف به په مصدر كي حذ ف سوي وي.

احترازي مثال:يعد دي د لته په مضارع كي واو حذ ف سوي دي.

٢ـ حذ ف سوي حرف به دالتقاء تنوين په وجه به نه وي حذ ف سوي ،

احترازى مثال:هدًى دي چي په اصل كي هدىٌ وو.

اتفاقي مثال:چي هلته دوهم ساكن د تنوين نون نه وي بلكي د تنوين د نون پرځاي باندي بل ساكن وي د: اِقْوَامٌ او اِسْتَقوَامٌ څخه اِقَامَةٌ او اِسْتَقَامَةٌ

اودهغه اتفاقي مثال :چي هلته د سره هيڅ ساكن نه وي لكه: د وعد څخه عد ة ويل .

(١ـ فائده)

التقاء تنوين د يته وايي چي دوهم ساكن يي نون د تنوين راغلي وي لكه :

هد چي په اصل كي هديٌ (هُدَيُنْ) وو.

(٢ـ فائده)

هدي په اصل كي هدي وو د قال اوباع په قانون سره هدان سو بيا دوه ساكنان سره جمع سوه

Maktaba Tul Ishaat.com

اول ساكن مده وو حذف سو نو هدي ځندي جوړسو د لته زير بحث قانون نه جا ري کيږي ځکه دوهم ساکن د تنوين نون دي.

(۳ـ فائده)

اقامة په اصل کي اقوام وو د قال په قانون سره اقاام سو دواړه الفان ساکنان سوه اودغه بل ساکن د تنوين نون نه دي

امام اخفش اول الف حذ ف کوي .اوامام سيبويه دوهم الف حذ ف کوي وروسته يی د حذ ف شده حرف په عوض کي په اخره کي تاء متحرکه راوړل چي په نتيجه کي اقامة سو ، اواستقامة پر دغه باندي قياس دي.

داضافت په وخت کي د دغي تاء حذف کول جائز دي لکه :اقام الصلاة او عد الامر چي په اصل کي اقامة اوعدة وه .

سوال:لغة اومأة په اصل کي لغواومأي وه د قال اوباع په قانون سره لغان او مأان سوه .

نو دالف اونون تنوين په ما بين کي التقاء ساکنين راغله اول ساکن د مده والي په وجه حذف سو او د ده په عوض کي په اخره کي تاء راوړل سوه .

خلا صه: داچي د دوهم شرط دمفقود والي با وجود تا د الحاق ولي مابين ته راغلي ده؟

جواب:داسوال: د قلت توجه في عبارت المصنف نتيجه ده ،ځکه مصنف خپله تصريح کړيده

چي دا شاذ دي يعني د استعمال موافق او د قانون مخالف دي چي ودی شاذ ته احسن وايي.

قوله: امانحو وجهة قليل ست:

تشريح: که د مصنف دا مقصد وي چي په "وجهة" کي قياس عدم ذ کر د تاء دي ځکه چي د تاء ذ کر هغه مهال وي چي واو حذ ف سي او د لته يي د واو په شتون کي تا عوض راوړي ده نو دا نه منوچي دا تاء عوضي ده چي اجتماع د عوض او معوض راسي ځکه کيدلاي سي چي "وجهة" دي د اصلي وضع پردي وزن راغلي وي لکه : "وِلْدَةٌ" چي د "والد" جمع ده.

او که د مصنف دا مقصد وي چې په "وجهة" کې د اعلا ل ټول شرایط موجود دي او حال دا چې اعلا ل نه دي پکښې سوي ځکه واو يي سلا مت پاته دي نو وایم چې "وجهة" مصدر نه دي بلکې اسم د هغه "جهت" دي چې تو جه ورته سوي وي او که يي مصد ریت ومنم لکه چې ځینو ویلي دي نو بیا پروزن د "فِعْلٌ" نه دي راغلي بلکې د"فِعْلَةٌ" دي او په مستقبل کې يي اعلا ل نه دي سوي.

قوله: قانون هرواوي که ساکن مظهر باشد وما قبل او مکسوره آن واو الخ)

ترجمه: هر واو چې ساکن ښکاره وي او مخکې حرف يي مکسوره دغه واو په یاء بد ل کړه ، مثال لکه : "میعادٌ" و"میزانٌ" او په "اجلِوَّازاً" کې سالم پاته سو په یاء يي واو بد ل نه کړي ځکه دغه واو ښکاره نه دي بلکې مدغم دي.

تشریحات: د لته لابدي ده د پیژند لو څخه د څلور شیانو :۱ـ تحقیق.۲ـ د قانون.۳ـ شرایط.۴ـ امثله.

اول بحث تحقیق:

دا د مثال واوي یو بل قانون دي یعني هرهغه واو ي چې ساکن مظهر او مخکې حرف يي مکسوره وي هغه په یاء بد لیږي لکه : د"میعادٌ او "میزانٌ" واو اودغه که اصلي وي او که زائد مبد ل وي، که غیر مبدل وي په ساکن سره احتراز راغلي د "عَوَضٌ" څخه ځکه دغه واو متحرک دي او په مظهر سره احتراز راغلي د مدغم څخه لکه "اجلوازً" او مخکې مکسوره که په یوه کلمه کې وي او که په دوو کلمو کې وي او د مخکې کسره اصلي وي او که عاریضي خو واو د مخکې د مناسبت په وجه په یاء بدلیږي،

پوسه : هغه واو چې د دي قانون په وجه په یاء بد ل سي که د یاء ما قبل مضموم سي لفظاً بیرته راګرځي کتابتاً نه راګرځي .

دوهم اود ریم،او څلرم بحث:

(۱۰ د میعاد قانون)

د دي قانون د پاره یو حکم او شپږیي شرطونه دي:

حکم:واو په یا سره بد لول واجب دي.

۱ـ شرط: واو به وي ، احترازي مثال: یسر دي د لته یاء ده.

۲- شرط:واو به ساکن وي ،احترازي مثال: عِوَضٌ دي دلته واو متحرک دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳ـ شرط: ساکن واو به مظهر یعني بنکا ره وي مدغم به نه وي ،

احترازی مثال:اِجْلِوَّازٌ دي د لته ساکن واو مدغم دي.

۴ـ شرط:واو به د افتعال د باب د فاء په مقابله کي نه وي،

احترازي مثال:اتقد دي چي په اصل کي اوتقد وو د لته واو د افتعال د باب د فاء په مقابله کي راغلي دي.

۵ـ شرط: د واو ما قبل به مکسوره وي ،

احترازي مثال: قول ،اوموجب دي د لته ماقبل مفتوحه او مضمومه دي.

۶ـ شرط: دغه واو ته د حرکت ورکول سبب به نه وي موجود،

احترازي مثال:اِوْزَةٌ دي چي په اصل کي اوززة وو یوزاء په بلي زاء کي د مدغم کولوپه صورت کي واو ته د حرکت ورکول سبب موجود دي.

اتفاقي مثال:د مِوْعَادٌ او مِوْعَدَةٌ څخه مِيْعَادٌ او مِيْعَدَةٌ ویل واجب دي.

امثله: مِيْعَادٌ،مِيْجَلٌ،اِيْجَلٌ،مِيْضَعَةٌ، مِيْجَالَانِ، مِيْضَاعٌ،اِيْجَابٌ،مِيْزَانُوْنَ.

قوله: قانون هر یا ئیکه ساکن باشد وماقبل او مضموم آن یارا الخ)

ترجمه: هریاء چي ساکنه وي او مخکي حرف یي مضمومه وي دغه یاء په واو بد له که مثال لکه : يُوْقِنُ څخه ترلاتُوْ قِنْ پوري.

تشریحات: د لته لابدي ده د پیژند لو څخه د پنځو شیانو:۱ـ فوائدي.۲ـ دقانون حکم.۳ـ شرایط.۴ـ امثله.۵ـ اجراء یا گردان..

اول بحث په بیان کي د فوائدو:

۱ـ فائده

:افعل په اعتبا ر دوزن دري قسمه دي :۱ـ اسمي .۲- تفضلي .۳ـ صفتي.

افعل اسمي تعریف :هغه دي چي کلمه دافعل پروزن باندي راسي اود یوچا نوم وي لکه :احمد.

افعل تفضلي تعريف:هغه دي چې دافعل پروزن باندي راسي زياد ت او ډيرښت دمعنا پکښې معتبروي لکه: اَضْرَبُ ډ ير وهل کونکي سړي .

افعل صفتي تعريف: هغه دي چې دافعل پر وزن باندي راسي او په معنا کي د صفت اعتبا رکړي وي لکه :اَبْيَضُ .

۲ـ فائده

:فعلا ء په اعتبار دوزن پر دوه قسمه دي: ۱ـ اسمي.۲ـ صفتي.

فعلاء اسمي تعريف: هغه دي چې د فعلاء پر وزن راسي اوديو شي نوم وي لکه :صُحْرَاءَ.

فعلا ء صفتي تعريف:هغه دي چې د فعلاء پر وزن راسي او په معنى کي د صفت اعتبا رکړي وي لکه: بُيْضَاء.

۳ـ فائده

:فعلي: په اعتبارد وزن پر دري قسمه دي:۱ـ اسمي .۲ـ تفضلي.۳ـ صفتي.

فعلى اسمي تعريف: هغه دي چې د فعلى پر وزن راسي او ديوشي نوم وي لکه:طوبى دا ديودرختي نوم دي.

فعلى تفضيلي تعريف: هغه دي چې د فعلى پروزن باندي راسي اوپه معنى کي د زياد تي اعتبار کړي وي لکه : د ضُرْبىٰ ډير وهل کونکي ښځه

فعلى صفتي تعريف:هغه دي چې د فعلى پروزن باندي راسي اوپه معناء کي د صفت اعتبار وسي لکه : حيکي په ناز او نخرو سره تلونکي ښځه.

دوهم او دريم او څلرم بحث:

(۱۱ـ د يو سر قانون)

د دي قانون دپاره دوه حکمونه دي داول حکم دپاره اوه ـ۷ـ شرطونه دي او د دوهم حکم دپاره

د شرطو دري جماعتونه دي دهرجماعت دپاره پنځه شرطونه دي:

۱ـ حکم: ياء په واو سره بدلول واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ـ شرط: يا ء به ساكنه وي ،احترازی مثال: يسر دي د لته ياء متحركه دي.

۲- شرط: يا به مظهر (يعني بنكاره) وي، احترازي مثال: ميّز دي دا مدغمه ده .

۳ـ شرط: دياء ما قبل به مضمومه وي،احترازي مثال: بيع دي د لته مفتوحه دي.

۴ـ شرط:ياء به دافتعال د باب د فاء كلمي په مقابله كي نه وي ،

احترازي مثال:ايتسر دي د لته باب دافتعال دي.

۵ـ شرط: دافعل صفتي، اوفعلا ء صفتي په جمع كي به نه وي ،

احترازي مثال: بيض دي دا د ابيض او بيضاء مذكر او مؤنث مشتركه جمع ده.

۶ـ شرط:په فعلى صفتي كي به نه وي ،احترازي مثال: حيكي دي د لته صفتي دي .

۷ـ شرط:د ثلا ثى مجرد داجوف ياي په اسم مفعول كي به نه وي ،

احترازي مثال:مبيوع دي چي په اصل كي مبيوع وو،

اتفاقي مثال: د بيسر څخه يو سر.

(۴ـ فائده)

د لته مصنف دفعلى سره د صفتي قيد په لګولو سره فعلى اسمي خارج كړي دي ځكه چي دفعلى

اسمي ياء په واو سره بدليږي لكه : طيبى او كيسى څخه طوبى او كوسى ،ځكه په دوي كي اسميت غالبه دي ، پا ته تفضلي سوه هغه هم داسمي په حكم كي ده ځكه چي تفضلي بيله اضافت ،اومن ،اوالي نه استعماليږي او دغه دري سره داسم د خواصو څخه دي.

سوال: په فعلى اسمي كي ياء په واو سره بدليږي په صفتي كي ولي نه بد ليږي؟

جواب:د پاره د اسمي او صفتي په مابين كي د فرق كول په وجه سره بد ليږي.

سوال: فرق د دغه په برعكس كي هم كيداي سو؟جوب:په صفت كي د معنى په اعتبارثقل موجود

دی او واو تر یاء ثقیل دي نو که چیرې یاء په واو سره بد له کړي نولفظي او معنوي ثقل دواړه لازمیږي کم چي جائز نه دي ،هم دا وجه ده چي په صفتي کي دیاء ماقبل ضمه په کسري سره بد لو وو.والله اعلم بالصواب.

۲ـ حکم: تریاء مخکي چي کمه ضمه ده دهغي په کسره سره بدلول واجب دي.

۱ـ جماعت :اول څلور شرطونه یي داول حکم په شان دي.

۵ـ شرط: دافعل او فعلاء صفتي په جمع کي به وي ،احترازی مثال:یو سر دي .

اتفاقي مثال: بیض جمع دابیض مذکر او بیضاء مؤنث څخه بیض ویل واجب دي.

۲ـ جما عت :اول څلورشرطونه یي داول حکم په شان سره دي.

۵ـ شرط: په فعلی صفتي کي به وي ، احترازي مثال:طیبی دي د لته په فعلی صفتي کي نه دي.

اتفاقي مثال:دحیکی څخه حیکي ویل واجب دي.

۳ـ جماعت: اول څلور شرطونه داول حکم په شان دي.

۵ـ شرط: د ثلا ثي مجرد اجوف یاي په اسم مفعول کي به وي ،احترازي مثال:مَبْیُوْعٌ څخه مَبِیْعٌ.

(۵ـ فائده)

مبیع په اصل کي مبیوع وو د بیع په قانون سره مبیوع سو بیائي د مافوق الذ کرقانون ددوهم حکم

هغه ضمه چي تر یا ء مخکي وه په کسره سره بد له کړه نومبیوع ځني جوړسو،وروسته بیا د واو یاء په مابین کي یوځایوالي د دوو ساکنین راغلي اول ساکن مده وو حذف سو نو مبوع سو بیا د میعاد په قانون سره مبیع ځني جوړسو.

امثله: یُوْنَعُ، یُوْ سَرَانِ، یُوْقِنُوْنَ،اُوْسِرَ، تُوْ قِنِیْنَ، یُوْنَعُوْنَ.

څلرم بحث اجراء یا ګردان:

اَیْقَنَ،یُوْقِنُ، اَیْقِنْ، لا تُوْقِنْ:

سوال: په سه اقسام د کلمي کي څه شي دي؟ الجواب: فعلونه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: علا مه د فعل پکښي څه شي دي؟ الجواب: ما ضي ومضا رع وامر و نهي ده .

سوال: په دوو اقسام د فعل کي څه شي دي؟ الجواب: ثلا ثي دي.

سوال: په شش اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مزيد فيه دي.

سوال: په هفت اقسام کي څه شي دي؟ الجواب: مثال يايي دي.

سوال: په دوزدا ه اقسام کي څه شي دي؟

الجواب: "ايقن" ما ضي ده، "يوقن" مضارع "ايقن" امردي، "لاتقن" نهي دي.

سوال: په چهار ده اقسام کي څه شي دي؟

الجواب: صيغي د واحد مذ کر معلوم دي.

۱۲ـ قانون: هرواو مضموم که بجاي فا کلمه باشد وبعده واو د يکر متحرک نباشد روا بود الخ:

دولسم قانون: ترجمه: هرواو چي مضمومه وي او د فاء پر کلمه باندي وي او وروسته يي واو متحرک نه وي روا ده چي دغه واو په همزه سره بد ل کړي مثال لکه : "اُقتت"، او "وقتت"، او "اُوْرِيَ"، او "وُوْرِيَ" او په مکسور کي لکه "وِسادَةٌ" اختلا ف دي، ځيني وا يي په همزه سره يي بد لول روادي او ځيني وايي نه دي روا، او په واو مفتوحه کي چي د فاء پر کلمه باندي راغلي وي په اتفاق نه دي روا او هرچي واو د "اَحَدٌ" او"اناة" دي چي په دوي کي واو په همزه سره بدل سوي دي دا شاذ دي يعني خلاف القياس دي.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه پنځو شيانو:۱ـ تحقيق.۲ـ د قانون حکم.۳ـ شرايط.۴ـ امثله. ۵ـ اجراء يا گردان.

اول بحث تحقيق:

اما در واو مکسور: په واو مکسوره کي دوه مذهبه دي:۱ـ مذهب : والا وايي چي واو د فاء پر کلمه باندي راسي هغه په همزه سره بد لول جائز دي چي دا مذهب د ابو عثمان مازني دي .

۲ـ دوهم مذهب: والا وايي چي نه دي روا خو د دي مذهب والا مطلب دا نه دي چي قلب يي مطلقا روانه دي بلکي غرض يي دا دي چي د قياس او اطراد په ډول سره جائز نه دي لکه چي ما زني ګمان کړي دي بلکي پر سما ع موقوف دي لکه : "اِشَاحٌ" او "اِعاءٌ" چي په اصل کي "وِشاحٌ "او "وِعَاءٌ"وو.

واما د رمفتوح: يعني هغه واو چي مفتوح وي او د فاء پر کلمه باندي راغلي وي او تړده وروسته بل واو متحرک نه وي د قياس او اطراد په ډول په همزه سره يي اړول په اتفاق سره د مذهبينو روانه دي.

سوال : دا کيږي چي په "احد" او "اناة" کي ولي بد ل سوي دي چي اصل يي "وحد" وناة" دي ؟

الجواب: دا شاذ دي يعني خلا ف القياس دي او د قياس او اطراد مخ نه سي نيولاي.

د"احد" معنى: يو، لومړي" يوه سړي" او يک شنبي ته وايى، او د "اَناةٌ" معني: ځنډ، سوکه والي ، سستي بنځي، او هغه پوسه ته وايي چي د ځايه په ګرانه پورته کيږي.

دوهم اودريم اوځلرم بحث د قانون حکم:

(۱۲ـ داعد او اشاح قانون)

د دي قانون د پاره يو حکم دي دري يي شرطونه دي:

حکم:د واو په همزه سر بد لول جائز دي.

۱ـ جماعت اول شرط:واو به مضمومه او يا مکسوره وي،

احترازي مثال: وَعد دي د لته واو مفتوحه دي .

۲ـ شرط: واو به د کلمي په اوله کي راغلي وي ،

احترازي مثال: قول دي د لته په مابين کي راغلي دي .

۳ـ شرط:تر واو وروسته به بل متحرک واو نه وي ،

احترازي مثال: وويعد دي د لته بل واو راغلي دي .

اتفاقي مثال: دُوقِتت، وُعِدَ، او وِشَاحٌ ،او وُوْعد، څخه اُ قِتَتْ اُعد اِشاح اُوعد ويل جائز دي.

(فائده)

Maktaba Tul Ishaat.com

په دريم شرط کي ترواو وروسته د متحرک واو نفي سوي البته که چيري تر واو وروسته ساکن واو، او يا د سره واو نه وي بيا قانون جاري کيږ لکه: د وعد او ووعد څخه اعد اواوعد ويل جا ئزدي.

۱۳ـ دولسم قانون: و اما اگر دو واو متحرک د ریک کلمه بهم آیند واجب ست که اول رابهمزه بدل کنند الخ

دولسم قانون ترجمه: دوه واوه چي په يوه کلمه کي راسي وا جب دي چي اول واو په همزه سره بدل کړي که څه هم مفتوح وي مثال لکه "اواصل" چي جمع تکسير د "واصلة" ده او لکه "أُواعدُ" چي تصغير د"واعدٌ" ده .

نوټ: د لته که څه منصف صراحتاً قانون نه دي ذ کر کړي، خو بيا هم مورږ د اسانتيا د پاره ذ کر کي.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د څلورو شيانو :۱ـ د قانون حکم.۲ـ د قانون شرايط.۳ـ امثله.۴ـ فوائدي.

اول او دوهم او دريم بحث :

(۱۳ـ د اواعد او اويعد قانون)

د دي قانون د پاره يو حکم او څلوريی شرطونه دي.

حکم: اول په همزه سره بد لول واجب دي .

۱ـ شرط: دوه واوه به وي ،احترازي مثال: وعد دي دلته يو واو دي .

۲ـ شرط: دواړه واوه به متحرکه وي ،احترازي مثال: ووري دي د لته دواړه متحرکه نه دي.

۳ـ شرط: دواړه به يوځاي وي ،احترازي مثال: ولول دي.

۴ـ شرط: دواړه به د کلمي په شروع کي وي ،احترازي مثال: قوودي د لته د کلمي په اخر کي دي .

اتفاقي مثال: د وَوَاعِدٌ او وُوَيْعِدٌ او وَوَاصِلُ څخه اواعد او اويعد اَوَاصِلُ ويل واجب دي .

امثله:أُوَيْرِمٌ، اَوَاسِعُ، أُوَيْسِعٌ، اَوَاضِعُ، اَوَايْقٌ، اَوَاسِطُ، اَوَاجِبُ، أُوَيْثِقٌ.

څلرم بحث فوائدي:

۱ـ فائده:

په دي قانون کي مصنف يواځي دابن حاجب پرمذهب باندي اقتفاء کړي ده،

کنه د محقيقنو مذهب داسي دي که چيري دوهم واو د حرف زائده څخه بدل وو نودا جا ئزده چي اول واو په همزه سره بدل کړي لکه:ووري په ماضي مجهولي کي دوهم دالف څخه بدل دي چي په اصل کي واری دي.

۲ـ فائده.

:اول واو په همزي سره وجوبا ځکه بد ليږي چي د کلمي په شروع کي دوه متجا نسين

جمع کيد ل ثقيل دي خاص بيا په حرف علت کي اوهغه بيا هم واو ځکه په حرف علت کي واو زيات ثقيل دي د دغه ثقا لت د ليرکولو دپاره اول په همزه سره بدل سو.

سوال: دوهم واو ولي په همزي سره نه بدليږي ځکه دهغه په وجه سره ثقالت راغلي دي؟

جواب: ځکه د دوهم واو د حذف په صورت کي مقصد نه حاصليږي ځکه چي د واوي

عا طفه اويا واو د قسم په وخت کي هم ثقل با قي پا ته کيږي.

څوارلسم قانون: هرواو ويا که د رباب افتعال بجاي فاکلمه افتد وآن واو وياء بدل ازهمزه نباشد الخ.

د څوارلسم قانون ترجمه: هرواو اوياء چي د افتعال د باب د فاء پر کلمه راسي (او يا د تفعيل اويا تفاعل) او دغه واو اوياء بد ل د همزي څخه نه وي واجب دی په افتعال کي (او جائز دي په تفعيل او تفاعل يکي) بد لول د دغه واو اوياء په تاء سره بيا تاء په تاء کی مدغمول (د دواړو مثالونه په متن کي ذ کر دي) او په "ايتمر" او "ايتکل" کي ياء نه کړل بد له په تاء سره ځکه دا ياء بد له دهمزي څخه ده او په "اتخذ" کي چي سره د دي چي ياء بد له دهمزي څخه وه بياهم په تاء سره بد له کړل دا شاذ دي يعني خلاف القياس دي :

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د درو شيان:۱ـ د قانون حکم.۲ـ شرايط.۳ـ امثله.

فائده: د قانون په باب د افتعال کي وجوبي او په تفعل او تفاعل کي جوازي جاری کيږي.

اول او دوهم او دريم بحث:

(۱۴ـ د اتقد يتقد اتسر قانون)

Maktaba Tul Ishaat.com

د دي قانون دپاره دوه حکمونه دي او دهرحکم د پاره دري دري شرطونه دي:

۱ـ حکم: واو اويا په تا سره اړول او تا په تا کي مدغمول واجب دي.

۱ـ شرط:واو او يا به وي ،احترازي مثال: اجتهد او اکتسب دي دلته واو اويا نسته.

۲ـ شرط: واو او يا به دهمزي څخه بدل سوي نه وي ،احترازي مثال:ايتمر او اوتمر دي چي په اصل کي اءتمر او اءتمر وه او د لته واو او يا دهمزي څخه بدل راغلي دي.

۳ـ شرط: د افتعال د باب د فاء پر کلمه باندي به راغلي وي ،احترازي مثال: اجتوب اواختير دي د لته دعين کلمي پرمقابله باندي راغلي .

اتفاقي مثال:د واوي د اِوْتَقَدَ څخه اِتَقَدَ ،اوياي دايْتَسَرَ څخه اِتَسَرَ ويل واجب دي.

۲ـ حکم: چي واو او يا په تاسره اړول جائز دي او تا په تا کي مدغمول واجب دي.

۱ـ شرط: واو اويا به وي ،احتراز ي مثال:تضرب او تضارب دي د لته واو اويا نسته .

۲ـ شرط: واو او يا به د همزي څخه بد ل سوي نه وي ،احترازي مثال: تُوُدِّ بَ او تُوُوْدِ بَ دي چي اصل يي تؤد ب او تؤود ب وو.

۳ـ شرط: د تفعل او يا تفاعل د باب د فاء پر کلمي باندي به راغلي وي ،احترازي مثال:تقول تحير تقاول او تبايع دي دلته دعين د کلمي په مقا بله کي راغلي دي.

اتفاقي مثال:د تَوَعْدَ او تَيَسَرَ څخه اِتّعدَ او اِتّسرَ.اود تَوَاعَدَ او تَيَاسَرَ څخه اِتاعَدَ او اِتاسَرَ دي.

امثله: اتقد ،اِتَّعَدَتْ، اِتَارَکَ ،لَنْ اَتَاعَدَ ،مُتَّقِدَاتٌ،

قوله : صرف الاجوف من قال "الى" مِقْوَالٌ" "قال" د راصل "قول" بوده است واو بالف بد ل کشت قال شد قانون هرواوي ويائي که متحرک باشد الخ:

ترجمه: صرف اجوف پر نورو د تقد يم وجه بنکاره ده او د تعريف او تسميه وجه يي مخکي تيره سوي ده "قال" ما ضي معلومه ده ، او په اصل کي "قول" وه بيا واو په الف بدل سو "قال" سو قانون او قاعده دا ده چي هرواو او ياء چي متحرک وي په حرکت لازمي سره وروسته يی الف د تثنی او الف د ضمير او حرف ساکن چي لازم وي تحقوق دهغه او سکون هم نه وي او مخکي تړده په دا غه کلمه کي حرف

مفتوح وي او دغه واو او ياء محمول پر واو او ياء صحيح ضروري نه وي او مصد ر يی پروزن د فعلی او فعلان نه وي او په لام کلمه کي تغير نه وي سوي دغه واو اوياء په الف بدل کړه ، مثال لکه :" قال ،باع، وباب، ونابٌ، وعصا، ورحی".

نوټ: دا پنځلسم قانون دي)

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د څلورو شيانو :۱ـ دقانون حکم.۲ـ شرايط.۳ـ امثله.۴ـ فوائدي.

اول او دوهم او دريم بحث:

(۱۵ـ د قال او باع قانون)

د دي قانون دپاره يوحکم اواتلس ـ ۱۸ـ يي شرطونه دي اول څلور وجودي او باقی عدمي دي:

حکم: واو او ياء په الف سره بد لول واجب دي.

۱ـ شرط:واوياء به متحرک وي ،احترازی مثال:قول بيع دي د لته ساکن دي.

۲ـ شرط:دواو ياء حرکت به لازمي وي عا رضي به نه وي.

احترازی مثال: لوستطعنا او جيل دي چي په اصل کي لواستطعنا اوجيئل وو.

۳ـ شرط:دواو او ياء ماقبل به مفتوحه وي ،احترازي مثال: قول او بيع دي .

۴ـ شرط:واو ياء او مخکي فتحه به په يوه کلمه کي وي،

احترازي مثال: فوعد اوسيقول دي د لته په جلا جلا کلموکي دي.

۵ـ شرط: واو ياء به د فاء پر کلمه نه وي راغلي ،احترازي مثال: توعد تيسر دي .

۶ـ شرط: واو ياء به د ناقص دعين په مقابله کي نه وي راغلي،

احترازي مثال:قوي اوحيی دي د لته د ناقص دعين په مقابله کي دي.

۷ـ شرط:وو اويا به حکما د ناقص دعين په مقابله کي نه وي،

احترازی مثال:ارعوو او ارميی دي د لته اول واو يا ء په حکم د ناقص دعين پر کلمه دي.

۸ـ شرط:مده زائده چي ثابت پريښوول يي لازم وي نه به وي اود يوخاص معنا د حا صلولو

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره به هم نه وي راوړل سوي ،احترازي مثال: سواد او بيا ض دي دلته الف مده لازمي دي اود لون د معنى د حاصلو د پاره راوړل سوي دي او ثابت پريښول يى هم لازم دي.

۹ـ شرط:تر واو اويا وروسته به الف د تثنيه نه وي ،احترازي مثال:عصوان رحيان عصوين رحيين دعووا او رميا دي .

۱۰ـ شرط: ترواو او يا وروسته به د جمع مونث سالم الف نه وي ،

احترازي مثال:عصوات او رحيات دي د لته ترواو او ياء وروسته د جمع مونث سالم الف راغلي دي.

۱۱ـ شرط: ترواو او ياء وروسته به ياء مشد ده نه وي،

احترازى مثال:عصوي اورحوي دي د لته ياء د نسبت ده ،يا عصوية دي د لته ياء د مصدرية ده .

۱۲ـ شرط:تر واو او يا ء وروړسته به نون د تاكيد نه وي ،

احترازي مثال:ارعون اخشين او ارعون او اخشين دي د لته د تاكيد نون راغلي دي .

۱۳ـ شرط: په كمه كلمه كي چي واو ياء وي هغه به پروزن د فعلا ن باندي نه وي ،

احترازي مثال:جولان حيوان دي د لته دا دواړه د فعلا ن پر وزن باندي دي.

۱۴ـ شرط: په كمه كلمه كي چي واو ياء وي هغه به د فعلى پروزن باندي نه وي ،

احترازي مثال: صورى او حيدى دي دا دواړي كلمي د فعلى پر وزن باندي دي.

۱۵ـ شرط:په كمه كلمه كي چي واو اوياء دي دابه د داسي كلمي هم معنى نه وي چي په هغي كي اعلا ل نسي كيدي، احترازى مثال:عور او عين دي چي دوي دارعون او عين په معنى سره دي اوپه دغه دوو كلمو كي چي ترواو ياء مخكي كم حرف دي هغه ساكن دي دغه سكون يى مانع د اعلا ل څخه دي.

۱۶ـ شرط:واو ياء به د ملحق دعين د كلمي په مقابله كي نه وي،

احترازى مثال: قولول او بيعوع دي چي په قربوس پوري ملحق دي.

۱۷ـ شرط: وو او او ياء به دعين په مقا بله كي د حرف صحيح څخه بد ل سوي نه وي،

احترازي مثال: شير دي چي په اصل كي شجر وو يا د جيم څخه بدل سوي ده .

۱۸ـ شرط:واو اويا ء دفعل غير متصرف دعين كلمي په مقابل كي نه وي .

احترازي مثال:قول او بيع دي د لته دعين په مقابله كي دي .

د فعل اتفاقي مثالونه:د قَوَلَ بَيَعَ دَعَوَ رَمَیَ څخه قال باع دَعَا رَمٰی ويل واجب دي.

داسم اتفاقي مثالونه:د بَوَبٌ نَيَبٌ عَصَوٌ رَحَیٌ څخه باب نا ب عصا رحي ويل واجب دي.

امثله:دَعَا،اِخْتَارَ،مُخْتَارٌ،نَجْتَابُ، بَا عَتْ، اِنْقَادَتْ، قَالَتَا، جَاءَ، بَاعُوْ.

څلرم بحث بيان د فوائدو:

۱ ـ فائده

:د دوهم شرط متعلق :

د حركت عارضی تعريف هغه حركت ته وايي چي د سكون په

حكم كي دي.

اوحركت عارضي پر دري قسمه دي:۱ـ په سبب نقل.۲ـ په سبب دالتقاء ساكنين.

۳ـ د پاره د متابعت.

۱ـ په سبب دنقل :هغه ته وايی چي د يوه حرف حركت د يوعذر د وجه څخه د نقل وروسته و

ماقبل ته وركول سی لكه :په حوء ب او جيئل كي دهمزه حركت نقل كړي دي او ما قبل ته يی وركړي دي تردغه وروسته يي همزه حذ ف كړي دي نوحوب او جيل ځني جوړ سوه .

۲ـ په سبب دالتقاء د ساكنين:هغه ته وايی چي داجتماع د وجهي څخه يوحرف ته حركت وركړل

سوی وي لكه: په لواستطعنا او دعو الله كي همزه وصلي په درج د كلا م كي حذف سوه بيا التقاء ساكنين راغله يعني واو سين نو بيا واو ته حركت وركول سو په نتيجه كي لو استطعنا او دعوالله سول .

۳ـ په سبب د متا بعة: هغه ته وايی چي حرف ته حركت وركول سي چي د بل تابع كړل سي يعني

Maktaba Tul Ishaat.com

که د مُتَابِع او مُتَابَع د واړو مفرد د فعلة پروزن وي نو د دوي جمع د فعلا ت پر وزن باندي راځي لکه :جوزات او بيضات دا په اصل کي جوزات او بيضات وه د تمرات د متابعت د وجهي څخه واو يا ته حرکت ورکړل سو.

(۲ـ فائده)

داوهم شرط متعلق:په حکم دعين د کلمي مطلب دا دي چي د ناقص دلام کلمه به مکرر وي

نو اوس اول حرف په ما بين کي سو نو په دي سبب دي دعين د کلمي پر منزله سو اودوهم حرف د مخکي والي په وجه دلام پر مقابله سولکه : ارعوو اول واو که څه هم دلام کلمه ده ليکن د تکرار په وجه دی په وسط کي راغلي نو اوس دي دعين په حکم کي سو نو اوس که چيري په عين کلمه کي اعلال وکړل سي نوبيا په دوو اصلي حروفو کي پر لپسي اعلا ل به راسي او دا جائز نه دي.

(۳ـ فائده)

داتم شرط متعلق:د مده زائده څخه مراد هغه حرف دي چي نه خو د کلمي جز وي

او نه پريو خاص معنا باندي دلالت کوي لکه :جواد، طويل ، اوغيور که چيري په دوي کي تعليل وسي نو لازم به سي دا خبره چي مده دي خودي پا ته سي اوکم حرکت چي دی مده ګرځولي دي هغه دي حذ ف سي کنه نو قانون نه جاري کيږي لکه :تدعون او ترمين چي په اصل کي تدعوون او ترميين وه دلته واو اوياء تر هغه مده زائده مخکي دي کم چي د جمعيت اوتانيث معنی ورکوي.

(۴ـ فائده)

ديولسم شرط متعلق: ياء مشدده عامه ده خواه که ياء نسبت وي او که ياء مصدريه وي ،که چيري

په دغو صغو کي تعليل وسي نوترياء مشد ده مخکي چي کمه کسره مطلوب ده هغه به پاته سي.

(۵ـ فائده)

که چيري د ياء مشد ده سره تاء زياته کړل سي نودغه ياء ته مصدريه وايي لکه : فاعلية

فاعل کيدل.

(۶ـ فائده)

د دولسم شرط متعلق : كه چيري په دغه نون کی تعليل وکړل سي نوترنون مخکي چي کمه فتحه په څلورو صيغو کي لازمه ده پر خپل حال باندي به پاته نه سي خلا ف وضع کار لازميږي.

(۷ـ فائده)

دڅوارلسم شرط متلعق .:د فعلا ن او فعلی په وزن کي د اعلال نه کولو وجه داده چي په دغو دواړ وزنو کي حرکت معنوي لازم دي نو په لفظ کي به هم متحرک وي چي پر معنوي متحرک والي باندي دلالت وکړي.

(۸ـ فائده)

د شپاړلسم شرط متعلق : واو يا که چيري په مقابله کي دلام کلمي د ملحق وي نو بيا قانون جاري کيږي لکه قلسی او تقلسی چي د د حرج او تد حرج ملحق دي په اصل کي قلسو او تقلسووه .

قوله : و د رجيل ولواستطعنا سلا مت ماند زيراکه حرکت واو وياء عرضي ست لا زمي نيست الخ :

ترجمه: په "جيل" او "لوستطعنا" کي واو اوياء سالم پاته سوه ځکه حرکت د واو اوياء عارضی دي چي د "جيل" د همزي څخه ورته نقل سوي دي چي اصل يي "جيئل" وو او "لوستطعنا" کي د يوځاي والي د دوساکنينو په وجه دي چي يو واو دی او بل سين دي او په "ليقولن" کي ياء سالمه په ته سوه ځکه په دا غه کلمه کي مخکي ترياء مفتوح حرف نسته لام چي هغه د داغی کلمي نه دي او په "عصوان" او "رحيان" کي وو ياء سالم پاته سوه ځکه تردوي وروسته الف د ضمير دي او په "اخشين" کي ياء سالمه پاته سول ځکه دا محمول دي پر "اخشيا" باندي ځکه د مشابهت په وجه چي د دوي په ما بين کي دي هغه دا دي چي وجوب د فتحي د مخکي د ملحق د دوي دي او په "سوادٌ، بياض" کي واو اوياء سالم پاته سول ځکه تردوي وروسته حرف لازم الوقوع دی مخالف حکم دي د "دعت" او "رمت " چي د لته واو اوياء په الف بد ل سوه او بياحذ ف سوه ځکه تحقوق د تاء په دغه ځايي کي لازمي نه دي جلا والي يي جائز دي او په "عور" او "حور" او "عين" او "اجتور" کي واو اوياء سالم پاته سوه ځکه دا محمول دي پر "اعور" او "احور" او "اعنی" او"تجاور" باندي چي د دوي معنی يوه ده او په "حيوان" او "موتان" کي واو ياء سالم پاته سول ځکه مصد ر يي پروزن د فعلان دي او په "حيدا" کي ياء سالمه پاته سول ځکه مصدر يي پروزن د فعلی دي او په "قوي" او "طوي" کي واو سالم پاته سو ځکه چي دلام په کلمه کي

Maktaba Tul Ishaat.com

اعلال سوي دي او هرچي صحيح پاته کيدل د واو په "قودٌ" او "خونة" کي دا شاذ دي لکه څنګه چي اعلال په "طائيٌ" کي لزوماً دي اوپه "جيل" کي جوا زاً دا شاذ دي.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د سوال او جواب :

سوال: په جيل او لوستطعنا کي دي واو اوياء په الف سره ولی نه کړل بدل؟

الجواب: ځکه چي د دوي حرکت عارضي دي لازمي نه دي ځکه جيل په اصل کي جيئلٌ وو دهمزي حرکت يي نقل کړي وياء ته ، او په دوهم کی واو په اصل کي ساکن وو "لْ" وو بيا د يو ځاي والي د دوو ساکنينو په وجه چي يو واو اوبل سين دي نو واو ته يي حرکت ورکي.

سوال: دوه مثالونه يی ولی راوړل يو هم کفايت کوي؟

الجواب: ځکه يي دوه مثالونه راوړل چي حرکت عارضي پر دوه قسمه دي يو منقلبه دي دوهم حاصل سوي وي د التقاء ساکنينو په وجه .

سوال: په ليقولن کي ياء ولی په الف بدل نه کړل؟

الجواب: ځکه د ياء ماقبل د داغی کلمي مفتوح نه دي بلکي لام د تاکيد دي.

سوال: په عصوان او رحيان کي ولي واو اوياء په الف سره بدل نه کړل؟

الجواب: ځکه تردوي وروسته الف د تثنيي دي.

سوال: په دعوا او يدعيان او اخشيا کي واو اوياء ولي په الف سره بدل کړل؟

الجواب: تردوي وروسته الف د ضمير دي.

سوال: الف د تثنيه او الف د ضمير څه فرق دي؟

الجواب: الف چي کله په اسم کي راسي هغه ته الف د تثنيي وايي او چي کله په فعل کي راسي هغه ته الف د ضمير وايی .

سوال: په اخشين کي ولي ياء په الف بد له نه سوه ؟

الجواب: ځکه دا محمول دي پر اخشيا باندي او وجه د حمل يي دا ده چي د دواړو په اخيره کي الحاق راغلي دي د اخشيا په اخيره کي الف د ضمير دي او د اخشين په اخير کي نون د تاکيد دي چي د دواړو مخکي حرف مفتوح کول وا جب دي.

سوال: په سوادٌ او بياضٌ کي واو اوياء ولي په الف بدل نه کړل ؟

الجواب: ځکه تردوي وروسته داسي حرف ساکن وو چي هغه لازم الوقوع دی يعني الف ساکن وضعي دي حرکت نه قبلوی.

سوال: په دعت او رمت کي ولي واو اوياء په الف بدل کړل او سره د دي چي تردوي وروسته ساکن حرف دي .

الجواب: ځکه دا لازم نه دي جلا والي يی روادي.

سوال: په عور او حور او عين او اجتور کي ولي اعلال نه دي کړي؟

الجواب: ځکه د ا محمول دي يعني د دوي عد مي اعلال حمل دي پر اعور او احور او اعينَّ او تجاور باندي او وجه د حمل يي دا د ه چي د دوي معنی يوه ده عور ، ړوندوالي، پريښول ، او د باندي وتل، د حور د سترګو د توربيخی توروالي، او د سترګو د سپين بيخي سپين والي ، عين د سترګو پراخوالی اجتور يو د بل سره ګاونډ يتوب کول د مزيد هم دغه معنی ده .

سوال: په حيوان کي ولي اعلال نه دی کړي؟

الجواب: ځکه مصد ريی پروزن د فعلانٌ دي او بل په دوي کي تحرک معنوي لازم دي او په لفظ کي پريښو وي چي د لفظ تحرک د معنی پر تحرک دلالت وکړي.

سوال: "موتانٌ" کي ولي اعلال ونه کړي سره د دي چي سکون معنوي لري؟

الجواب: دا محمول دي پر حيوان باندي وجه د حمل يي يو د بل نقيض دي.

سوال: په حيدَ کي ولی اعلال ونه کړی؟ الجواب: مصد ريي پروزن د فعلی دي.

سوال: په قوي او طوی کي ولي اعلال نه کړي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجوب: ځکه د دوي دلام په کلمه کي اعلال سوي دي بيا توالی د اعلا لينو را تلل د، "قوي" اصل "قوِوَ" او د"طوی" اصل "طوىَ " وو .

سوال: په "قوادٌ" او "خونةٌ" کي ولي اعلال نه دي کړي؟

الجواب: دا شاذ دي يعني خلاف القياس دي.

سوال: په طائيٌ کي لزوم د اعلال او په يا جل کي جواز ولی دي؟ الجواب: دا شاذ دي.

نوټ : "استطَعْنا" په اصل کي اِستطوَعنا وو مصدريي اِسْتَطَوَعٌ وو بيا واو په الف بدل سو او اخير کي تاء را وړل استطاعة سو چي مجرد مصد ر يي "طوعٌ "بيا طاعةٌ سو د استفعال باب.

نوټ: اِجْتور د افتعال د باب ما ضي دي ، اعوَرَّ اِحْوَرَّ اِعْيَنَّ" د افعلالً د باب ما ضي دي تجاور د تفاعل د باب ما ضي دي عور او عين دعلم د باب ما ضي دي او حور د سمع د باب ما ضي دي.

نوټ: "خَوَنَةٌ" جمع مکسر د"خا ئنٌ" اسم فاعل ده.

قوله : قلن د راصل قوَلْنَ بوده است نقل کرده ازقوَلْنَ قوُلْنَ آورندالخ:

دا شپاړلسم قانون دي: ترجمه : قلن په اصل کي "قوَلْنَ" وو بيا د "قَوَلْنَ" څخه نقل کي "وقَوُلْنَ" ته او واو حرف علت ضعيف وو حرکت د ضمي پر ده ثقيل وو نو هغه حرکت يی ما قبل ته ورکي وروسته تروړلو د حرکت واو يي وغورځوي نو "قلْنَ" سو،

سوال: څه رکم دي د"قولنَ" څخه" قوُلْنَ" ته نقل کړي؟ جواب: ځکه که چيري پر خپل اصل باندي پاته وايي او واو الف ګرځيد لي وايي او بيايی حذف کړي وايي نو پر حذف به يی د ليل نه وايی.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د څلورو شيانو:۱ـ فوائدي.۲ـ د قانون حکم.۳ـ شرايط.۴ـ امثله.

(۱۶ـ دالتقاء ساکنين قانون)

د دي قانو ترمخ يو فايده ازده کول ضروري ده .

اول بحث په بيان کي د فوائدو:

۱ـ فايده:

التقاء ساکنين پر دوه قسمه دي:۱ـ علي حده .۲ـ على غير حده.

على حده تعريف:هغه ته وايي چي په هغه کي دغه دري شرطونه موجود ووي:١ـ ساکن اول به مده او يا ياء د تصغير وي.٢ـ ساکن ثاني به مدغم وي.٣ـ يوه کلمه به وي.لکه : احمارّ.

دعلی غير حده تعريف: که چيري په دغه درو شرطو کي يوه شرط او يا دوه شرط اويا دري سره نستي سي نوالتقاء ساکنين ته على غير حده ويل کيږي.

دالتقاء ساکنين د پاره اوه ـ٧ـ صورتونه دي:

١ـ	انتفاء داول شرط	لکه يخصم
٢ـ	انتفاء د دوهم شرط	لکه قالن
٣ـ	انتفاء د دريم شرط	لکه اضربون
۴ـ	انتفاء داول اودوهم شرط	لکه:مدد
۵ـ	انتفاء د دوهم اودريم شرط	لکه:اضربواالقوم
۶ـ	انتفاء داول او دريم شرط	لکه:لتدعون
٧ـ	انتفاء د ټولو شرطو	لکه:قل الحق

د دي قانون د پاره پنځه حکمونه دي او اول حکم دعلی حد ه دپاره دي

اوبا قي څلور دعلی غير حده دي داول حکم د پاره يو شرط دي او د دوهم حکم د پاره دوه شرطونه دي او د دريم حکم د پاره دری شرطونه ،اود څلرم او پنځم حکم دپاره څلور څلورشرطونه دي.

١ـ حکم: التقاء ساکين پرخپل حال پر يښول واجب دي.

شرط: التقاء ساکنين به على حده وي احترازي مثال: قلن.اتفاقي مثال:احماراواحمور.

٢ـ حکم:التقاء ساکنين پرخپل حال پريښول واجب دي .

١ـ شرط: التقاء ساکنين به على غيرحده وي ،احترازی مثال: احمار او احمرو.

٢ـ شرط: په حالت د وقف کي به وي ،احترازی مثال: قلن اتفاقي مثال: غفور رحيم.

(٢ـ فائده:)

د حالت د وقف څخه مراد هغه سکون دي چي د وقف په وجه سره پيد ا سوي وي نه د جوازمو او داسي بله وجه ځکه چي دغه چي حرف په حقيقت کي متحرک وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳ـ حکم:د دوو ساکنینو څخه اول حذف کول واجب دي.

۱ـ شرط:د مخکي په شان دي.۲ـ شرط:په حالت دوقف کي به نه وي، احترازي مثال:غفوررحيم.

۳ـ شرط:د دوو ساکنینو څخه به اول ساکن مده او یا نون خفیفه وي ،احترازي مثال: یخصم دي.اتفاقي مثال:د قالن څخه قلن بیا قلن ویل واجب دي.

۴ـ حکم: د دوو ساکنین څخه اول ساکن ته حرکت ورکول واجب دي.

۱ـ شرط:دوه اول شرطونه یی د مخکي په شان دي.۳ـ شرط:د دوو ساکنین څخه اول به مده او یا نون خفیفه نه وي،احترازی مثال: قا لن دي.

۴ـ شرط:د دوو ساکنین څخه به اول ساکن د کلمي په اخرکي به ،احترازی مثال:یخصم دي.

اتفاقي مثال:د قُلْ اَلْحَقُّ څخه قُلِ الْحق ویل واجب دي.

۵ـ حکم: د دووساکنین څخه اول ساکن ته حرکت د کسري ورکول واجب دي.

۱ـ شرط: اول دري شرطونه یي دمخکي په شان دي.

۴ـ شرط: د دوو ساکنین څخه به اول ساکن دکلمي په اخره کي نه وي ،احترازي مثال:قل الحق دي.

اتفاقي مثال:د یختصم څخه یخصم ویل واجب دي.

امثله: اِرْتَبْتُمْ، اِرْتَبْتَ،اِنْقَدَ، اِخْتَرْنَا، اُنْصُرُوْالْقَوْمِ، اِقْرَءِ الْکِتَابَ، بَلِ ادَّارَکَ، اَمِ ارْتَابُوْا.

قوله : وکذالک بعنَ که دراصل بیعن است نقل کرده ازبیعن اورد ند .الخ:

اوه لسم قانون ترجمه: همده غه رکم "بعن" په اصل کي "بیعن" وو نقل یی کي د"بیعن "څخه و"بِیعْن"ـَ ته او حرکت د یاء یي مخکي حرف ته ورکړي وروسته تروړلو د حرکت دوه ساکنه یوځاي راغلي اول یی حذ ف کړي "بِعْنَ" سو یا مورِ وایو چي واو اویاء په الف بد ل سوه بیا الف یي وغورځوي او مخکي د حرف علت (یعني مخکي حرف) مو مضمومه کي په "قُلْنَ " کي او مکسور مو کي په "بعنَ " کي.

نوټ: د لته که څه هم مصنف صراحتاً قانون نه دي ذ کر کړي لیکن مورِ د اسنتیا د پاره ذ کر کړي.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د څلورشيانو:۱ـ سوال او جواب.۲ـ د قانون حکم.۳ـ شرايط.۴ ـ امثله.

اول بحث سوال اوجواب:

سوال: په "قُلْن" او "بعن" کي واو او ياء د عين د کلمي پر ځاي دي او دواړه مفتوح دي او بيا دغه فتحه په واو کي په ضمي او په ياء کي په کسري سره څنګه بدل سوه ؟

الجواب: ځکه چي د "قال" په قانون واو ياء په الف بد ليد ل غو ښتل او دغه الف بيا د يوځاي والی د دوساکنيو په وجي غو ښتل چي حذ ف سي نو بيا دلالت نه وو پر حذ ف د واو او ياء ځکه چي ما قبل د واو ضمه او د ياء کسره نه وه چي د واړه مفتوح دي نو بيا مو په واو کي ضمه او په ياء کي کسره راوړل چي دلا لت وکړي پر حذ ف د واو اوياء.

دوهم اود ريم او څلرم بحث:

(۱۷ـ د خِفْنَ او بِعْنَ قا نون:)

د دي قانون دپاره يوحکم او پنځه شرطونه دي:

حکم: په فعل ما ضي کي فاء کلمي ته حرکت د کسري ورکول واجب دي.

۱ـ شرط:واو به مکسوره وي او يا ء به مطلقا وي يعني پر ياء که حرکت د ضمي

اوکه د کسري ،احترازي مثال:قول طول دي د لته واو مکسورنه دي.

۲ـ شرط: په ثلا ثي مجرد کي به وي احترازي مثال:اطرف دي د لته دا ثلا ثي مجرد نه دي.

۴ـ شرط:په اجوف کي به وي،احترازي مثال:رمت دي چي په اصل کي رميت وو داناقص دي.

۵ـ شرط:واو اويا به الف سوي وي بيا به حذف سوي وي ،احترازي مثلا: خاف او باع دي په

اصل کي خوف بيع وو د لته واو اوياء په الف بدل سوه ليکن الف نه دي حذف سوي.

اتفاقي مثال د واو :خِفْنَ دي چي په اصل کي خَوِفْنَ دي.د ياء مفتوحه اتفاقي مثال: بِعْنَ دي ،د ياء مکسوره اتفاقي مثال: طِبْنَ دي ،د ياء مضمومه اتفاقي مثال: هَبْنَ دي چي په اصل کي بَيُعْنَ ، طَيُبْنَ ، هيئن وه.

(فائده:)

Maktaba Tul Ishaat.com

داول شرط متعلق: د واو کسره عامه ده که په ماضي که وي لکه مخکي چي په مثالوکي ذ کرسوه

او که په ماضي کي نه وي بلکي د ماضي په مضارع کي واو مکسوره وي هم دغه قانون جاري کيږي لکه :طوح يطوح،

اتفاقي مثال: طحن دا په اصل کي طوحن وو د ضرب د باب څخه دي، نوادرالاصول.

امثله:بِعْتُمْ،طِبْنَا، جِئْنَ، سِلْنَ، سِلْتَ، عِبْتَ، شِبْنَا، زِدْنَ، زِدْنَا، طِبْنَ.

قوله: قانون هر واوي او يايي که د رما ضي ثلاثي مجرد الف کرد د ويپتد حرکت ما قبل اورا موافق او کردا نند الخ :

اتلسم قانون ترجمه : قانون قاعده دا ده چي هرواو اوياء چي په ماضي ثلا ثي مجرد کي الف وګرځي او بيا حذ ف سي حرکت د مخکي د دوي د دوي موافق وه ګرځوه او هرچي "خِفْنَ" دي حرکت د واو يی مخکي حرف ته ورکي او په الف بدل يي نه کړي دا خلاف القياس دي ،

سوال: واو يي څه رکم وغورځو يي ؟

الجواب: هرځاي چي دوه ساکنه على غير حده وي اول د دوي څخه مده وي (او دوهم مدغم نه وي) نو اول حذ ف کړه ، مثال: "دَعَتْ رَمَتْ" او ځينو ويلي دي چي هغه اخفش او دهغه اتباع دي چي هرځاي دوه حرف علت ساکن سره راسي لکه څنګه چي مور ووِيل يعني اول مد ه او دوهم مدغم فيه نه وي اول اصلي دوهم زائده وي بايد اصلي حذف کړي ځکه زائده علامه ده او علا مه نه حذ ف کيږي او ځينو ويلي دي چي هغه خليل او سيبويه دي چي دوهم بايد حذف کړي ځکه زائد ښه ترا حقدار دي په حذ ف سره نو د خليل او سيبويه پر مذهب محذوف په دي مثال کي "مَقُوْلٍ " واو "مَفْعُلٍ" دي او پر اول مذهب باندي چي هغه د اخفش دي خا ص دعين کلمه حذف سوي ده چي هغه واو دي په "مقولٍ کي.

تشريحات: د دي قانون د ياء اجراء د بعن په قانون کي وه سوه ،

د لته صرف د واو مثال ليکونو ځکه مو دا قانون د قلن او طلن په نا مه سره ونوموه:

(۱۸ـ د قُلْنَ طُلْنَ قانون:)

د دي قانون د پاره يو حکم او پنځه شرطونه دي:

حکم:په فعل ماضي معلومه کي د فاء کلمي ته حرکت د ضمي ورکول واجب دي.

۱ـ شرط:واو به غير مكسور وي ،احترازي مثال:خَوِفَ دي د لته مكسوره دي.

۲ـ شرط:په ماضي معلومه كي به وي ،احترازي مثال:يقول دي.

۳ـ شرط:په ثلا ثي مجرد كي به وي ،احترازي مثال:اقومن دي د لته ثلا ثي مز يد دي.

۴ـ شرط: په اجوف كي به وي ،

احترازي مثال: دعت چي په اصل كي دعوت دي د لته واو په ناقص كي دي .

۵ـ شرط:كم واوچي په الف سره بدل سوي دي هغه به ساقط سوي وي ،

احترازي مثال:قال دي چي په اصل كي قول وو د لته چي كم واو الف سوي دي هغه ساقط سوي نه دي.

اتفاقي مثال:د قلن اوطلن څخه قلن اوطلن دي چي په اصل كي قولن اوطولن اود قال په قانون قالن طالن سوبيا دالتقاء ساكنين په قانون سره قلن طلن سوه بيا په هم دغه قانون سره قلن طلن سوه .

امثله: مُتْنَ، قُلْنَا، طُلْتُنَّ، دُ رْتُنَّ، طُلْتَ، كُنَّا ،سُقْنَا، ثُبْتُ، عُزْتُ، نُمْتِ.

قوله: وبدا نكه حركت عارضي درحكم سكون ست وحركت عارضي آن بودالخ:

ترجمه: پوه سه اى طالبه چي حركت عارضي په حكم د سكون كي دي او حركت عارضي هغه دي چي متحرك كي يوه حرف او حق د ده سكون وي د ضرورت په وجه متحرك سوي وي نو د دي وجي ته ووايه "قُلْ الْحقَّ" معنى واوي حق "وبع الثوب" معنى رانيسه جا مه ياي خرڅه كه او "دعتا" يعني بيله راگرځولو د محذوف او مخالف حكم دي د "لم يقُوْلا"، او دا خبر ثابته هم ده ځكه چي جزم وا قع دي پر نون د تثنيي باندي چي د"لم يقُوْلا " اصل "يقولان" وو بيا په جزم كي نون ساقط سو او دغه جزم پرلام نه دي وا قع سوي او هم دغه ركم "قولا " ځكه بناء تا بع داري كوي د اعراب د مستقبل او هرچي "قولن" دي په را گرځولو كي د حرف محذوف دا محمول دي پر "قُوْلا" باندي لكه څنگه چي مخكي په "اخشين" كي تير سوي دي او په "دعوالله" او" قل الحق" كي حذ ف نه كړل يوده ساكنينو څخه او اخير د كلمي ته يي حركت وركي ځكه اول د دوي څخه مده نه وو ان شاء الله تعالى د دي حكم به په مضاعف كي راسي والله اعلم چي مورِ به وروسيرو او كنه.

دوهم وار د خط نويسي په وخت كي د الله شكرگذار يم چي الله د مضاعف وشرحي ته ورسولم هم دغه اوس تاريخ دي:۱۶ـ ۸ـ ۱۳۹۳.. د شپي يولس بجي څوارلس دقيقي.

Maktaba Tul Ishaat.com

او همد ا اوس تا ریخ چي بیا کمپیوټر ته نقل سو :۲۸ شوال:۱۴۴۲.. چي قریب اوه کاله وروسته کیږي لله الحمد.

تشریحات: د لته لابدي ده د پیژند لو څخه د تحقیق:

بدا نکه حرکت عارضي الخ

د ا د سوال مقد ر جواب دي

سوال: چي کم جواب ته په کتاب کي ورکړي چي حذ ف د واو او یاء او د الف د وجي د التقاء ساکنینو کړي ده په قل او بع او نور کي په قل الحق او بع الثوب کي خوالقتاء د ساکنینو د فعه وه ځکه په دوي کي یو حرف متحرک سو نو پکار ده چي واو اویاء او الف بیرته راوګرځول سي؟

الجواب: مصنف کوي چي حرکت پر دوه قسمه دي:۱ـ اصلي.۲ـ عارضی. دلته حرکت عارضي دي او حرکت عارضي په حکم د سکون کي دي ګواکي دغه متحرک حرف ساکن دي نو ځکه مو راونه ګرځول او دغه تحرک د دي ساکن چي په هرسبب سره وي.

"لم یقُوْلا: دا ده د سوال مقد ره جواب دي.

سوال: دا دي چي په "لم یقولا" کي د لام حرکت عارضي دي ځکه چي حرف جا زمه عمل پکښي کړي دي خو بیا هم دي متحرک دي په کار دي چي د لته هم حرف محذوفه چي واو دي نه وایي راګرځید لي او سره د دي چي تاسي راګرځولي دي؟

الجواب: مصنف ورکړي حاصل د جواب دا دي چي د لته دلام حرکت عارضي نه دي بلکي اصلي دي ځکه حرف جازمه په تثنیه کي نون غورځوي نه حرکت نو ځکه مو حرف محذوفه راوګرځوي او دغه رکم په "قولا" کي هم دلام حرکت اصلي دي عارضي نه دي.

سوال: مصنف وای چي بناء تابع د اعرب ده او سره د دي چي یود بل نقیض دي؟

الجواب: د لته بناء څخه مراد مصدر مبني د پاره د مفعول دي او هغه بناء مراد نه ده چي هغه مقابل د اعراب ده یعني د ا مرحاضر بناء تابع دي د اعراب د مستبقلي مجزومي یعني لکه څنګه چي په وخت د دخول د جازم د مضارع مفرد څخه حرکت او د تثنیه او جمع مذ کري او واحدي مؤنثیي څخه نون غورځوي هم دغه رکم په امر حا ضر کي غورځي په وخت کي د دخول د جازمه .

قوله: اما قوْلَنَّ: دا د سوال مقد ر جواب دي.

سوال: دا دي چي په قوْلنَّ" کي خو دلام حرکت عارضي دي بيا دی ولي واو محذوفه راګرځولي دي؟

الجواب: مصنف ورکي حاصل: چي دا محمول دي پر قولا باندي يعني په "قولا" کي واو راوګرځيدي دلته مي هم راورګرځوي او وجه د حمل يي په اخشين کي تيرسوه.

دَعْوَالله: دا د سوال مقدره جواب دي.

سوال: دا دي چي په "دعوالله، او قل الحق " کي د واو او لام حرکت عارضي دي نو التقاء د ساکنينو باقي ده نو پکار وه چي واو لام دي حذ ف کړي وايي؟

الجواب: مصنف ورکړي حاصل: چي حذ ف کول د اول د ساکنينو مشروط دي په دي شرط سره چي مده به وي او د لته مده نه دي.

قوله: قيل دراصل قُوِلَ بود حرکت واو بقاف دا دند الخ :

نلسم قانون ترجمه: "قيل" په اصل کي "قُوِلَ" وو حرکت د واو يی قاف ته ورکي بيا نو واو ساکن ما قبل يي مکسور دغه واو يي په ياء بد ل کړي قيل سو.

نلسم قانون: هروو او ياء چي مضمومه او يا مکسور وي ، په فعل متصرف کي وي او ياء په متعلق کي د فعل متصرف کي وي او په ما بين کي وي او ياء په حکم کي د ما بين وي او په اصل کي سالم نه وي پاته سوي او مخکي حرف يی مفتوح نه وي د دغه واو او ياء حرکت ما قبل ته ورکه مثال لکه : "قيل وبيع".

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د پنځو شيانو:۱ـ تحقيق.۲ـ د قانون حکم.۳ـ شرايط.۴ـ امثله. ۵ـ مختلف فوائدي.

اول بحث تحقيق: د فعل متصرف تعريف:

فعل متصرف هغه فعل دي چي تثنيه او جمع او تذ کير او تا نيث يی راتلي سي او يا دا سي فعل چي دهغه څخه څوارلس صيغي د ماضي، او مضارع ،او اومر ،او نهي، ورڅخه بناء وي

په اول تعريف د فعل څخه فعل تعجب ورڅخه خارج سو او په دوهم تعريف کي نعم او بئس او عسی خارج سول چي فعل متصرف څخه نه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

يا متعلق: اصل په دي اعلال کي فعل دي ځکه هغه ډ ير ثقيل دي او په اسم کي نه کيږي مګر که محمول پر فعل باندي وي په هغه کي کيږي او هغه پر دوه قسمه دي:١ـ اول هغه اسماء دي چي په فعل پوري متصل وي لکه مصد ر او ظرف، اسم فاعل، اسم مفعول، .٢ـ هغه اسماء دي چي د فعل سره د مباينة سره سره بيا هم موازن وي لکه: "مضروبٌ" چي د"يضرب" سره موازن دي او" ضارب" د "يضرب" سره موازنة لري او مباينة يي دا دي چي د فعل سره په دا سي زيادت يا بُنية سره مخالف وي چي هغه د اسم د مخصوصاتوڅخه وي لکه :مفعل او تفعل په کسره.

که د مصنف په تعلق سره مراد هغه وي چي د واړو نوعينو ته عام وي خو ښه تربښه او که يې مراد اتصال وي لکه متبا در هم دي نو د دوه قسمه مثالونه وزي خو ويل کيدلای سي چي دا ده د مبرد پر مذهب بناء دي ځکه دا اعلا ل د اسماء متصله ما سوی په نورو کي روانه دي او حمل د تعلق پر هغه چي يوازي دوهمي نوعي ته شامل وي ښکاره نيمګړ تيا ده.

اومتوسط وي اويا په حکم د توسط کي) اول دا سي چي د عين پر کلمه وي دوهم دا چي دلام پر کلمه وي مکر په اخيره کي د کلمي دا سي يوه شي پيوسته وي چي په ما قبل پوري لکه جز دا سي ګرځيد لي وي لکه هغه ضمائر چي د ما ضي او مضارع په اخيره پوري راځي همدا رکم لکه: علا مي د تثنيه او د جمع چي په اخير کي د اسم راځي.

دوهم دريم اوځلرم بحث :

(١٩ـ د قِيْلَ اوبِيْعَ قانون:)

د دي قانون د پاره دوه حکمونه دي داول حکم د پاره دري ناقص شرطونه دي

اود دوهم حکم د پاره دوه کامل شرطونه دي.

١ـ حکم: نقل حرکت حذ ف اشمام دري سره جائزدي.

١ـ شرط: په فعل حقيقي يا حکمي کي به وي ،

احترازي مثال:قول او بيع دانه فعل حقيقي دي اونه حکمي.

٢ـ شرط:واو اوياء په اصل يعني ماضي کي به سالم نه وي ،

احترازي مثال: عور او صيد د دي په اصل کي واو ياء سالم دي.

۳ـ شرط: واو اوياء به دهمزي څخه بدل سوي نه وي ،

احترازي مثال:سول او مستهزيون دي چي په اصل کي سئل او مستهزؤن دي.

دنقل حرکت اتفاقي مثال:دقول او بيع انقود او اختير څخه قول بيا د ميعاد په قانون سره قيل ويل واجب دي.

د حذف اتفاقي مثال: د قول څخه قول ويل واجب دي.

داشمام مثال به په فائده کي راسي.

(۱ـ فائده:)

اشمام په لغة کي په يو چا باندي يوشي بوي ول، اوپه اصطلاح کي: د اواز څخه بغيرفقط

په شنډانو سره د حرکت وطرفته اشاره کول يعني د حرکت د ويلو په وخت کي چي شنډان څنګه جوړيږي يا نول کيږی هغه رکمه شنډان نيول او حرکت په ويل ،د لته داشمام مطلب دادي چي د فاء د کلمي کسره د ضمي وطرفته ما ئله کړل سي او وويل سي.

(۲ـ فائده:)

د نقل حرکت لغة افصح دي او د حذف حرکت لغة ضعيف دي.

۲- حکم: نقل حرکت او اثبات حرکت دواړه جائز دي .

۱ـ شرط:په تفعلين ناقص کي به وي ،احترازي مثال:تقولين دي دا ناقص نه دي.

داثبات اتفاقي مثال:د تدعوين څخه تدعوين ويل جائز دي.

د نقل حرکت اتفاقي مثال: د تدعوين څخه تدعوين ويل جائز دي بيا د ميعاد په قانون سره تدعيين ويل واجب دي بيا دالتقاء ساکنين په قانون سره تدعوين ويل واجب دی.

۲ـ شرط: داسم مفعول ثلا ثي مجرد اجوف ياي باب به وي ،احترازي مثال:مقول دي .

داثبات اتفاقي مثال:د مبيوع څخه مبيوع ويل جا ئز دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د نقل حرکت اتفاقي مثال:د مبيوع څخه مبيوع ويل جائز دي بيا د يوسرد قانون په دوهم حکم سره ما قبل ضمه يي په کسري سره بدل کړل مبيوع ځندي جوړ سو بيا د التقاء ساکنين په قانون سره مبوع سوبيا د ميعاد په قانون سره مبيع سو.

امثله: غِيْضَ ،قُلْنَ،مِطْيَبٌ،قِمْتَ، مَبِيْعٌ،مَبْيُوْعٌ،طِيْبُوْا،قُوْمَ،تَنْهِيْنَ،مِيْمَ،نُوْنَ.

قوله: ويقول ويبيع وتغزين وترمون :

تشريح: دلته که څه هم مصنف قانون صراحتا نه دي ذکر کړي خومور قانون صرحتا ذکر کړي داسانتيا دپاره.

دلته لابدي د پيژند لو څخه د څلور شيانو : ۱ـ د قانون حکم.۲ـ شرايط.۳ـ امثله.۴ـ فوائدي:

اول اودهم او دريم بحث:

(۲۰ـ د يقول يبيع قانون:)

د دي قانون د پاره يو حکم دي او دولس يې شرطونه دي:

حکم:د واو اويا حرکت نقل کول وماقبل ته ورکول واجب دي.

۱ـ شرط:واو او يا به مضمومه او يا مکسوره وي ، احترازي مثال: يقول او يبيع دي.

۲ـ شرط: واو اويا به متوسط يا په حکم د متوسط کي وي ،احترازي مثال:لن يدعولن يرمي دي.

۳ـ شرط:واو اويا به په فعل متصرف اويا د فعل متصرف په متعلقاتو کي وي،

احترازي مثال: قول بيع دي.

۴ـ شرط: واو او يا به په اصل کي سالم نه وي ،احترازی مثال: يعور يصيد دي.

۵ـ شرط:واو او يا به په فعل حقيقي يا حکمي اجوف کي وي

احترازي مثال :د فعل حقيقي:قول ، د فعل حکمي مثال : اختير .

۶ـ شرط: واو او يا به په نا قص تفعلين کي نه وي ،احترازي مثال: تدعوين دي.

۷ـ شرط: واو او يا به د همزي څخه بد ل نه وي ،احترازي مثال: سول مستهزيون دي.

۸۔ شرط: د واو او یا حرکت به دهمزي څخه نقل سوي هم نه وي ،

احترازي مثال: یسویجي اصلي یی یسوء او یجئ دي.

۹۔ شرط: واو او یاء به په داسي کلمه کي نه وي چي ترقانون جاری کد لو وروسته د مشهور فعل هم وزن راسي ، احترازي مثال: تحویل تمییز دي.

۱۰ ۔ شرط: د واو او یا ء ما قبل به مفتوحه وي، احترازي مثال: قول بیع دي.

۱۱۔ شرط: د واو او یاء ما قبل به الف نه وي ،احترازي مثال: قال اوباع دي.

۱۲۔ شرط: د واو او یاء ما قبل به لین نه وي ،احترازي مثال: مقیول اومبییع دي.

اتفاقي مثال: د یقول یبع څخه یقول یبع ویل واجب دي.

امثله:یَطُوْلُ،یَرْضَوْنَ، تُرِیْدِیْنَ، یُثِیْمُوْنَ، فَلَا تَمُوْتُنَّ،نُجِیْبُ،تَجُوْزُ،تَلُوْمَانِ ، یعلون،.

څلرم بحث بیان د فوائدو:

(۱۔ فائده:)

د غه قا نون د ثلا ثي مجرد په ناقصه با بو کي مطلقا جاري کیږي خواه که واو اوياء په اصل کی سالم وي ،اوکنه وي لکه دعوا چي په اصل کي دعوو وو د ده پخپل اصل دعا کي واو سالم نه دي او دغه ډول رخو اوخشو چي په اصل کي رخووا او خشیو وو د دوي په اصل کي رخو خشی کي واو اوياء سالم دي.

(۲۔ فائده:)

د دریم شرط متعلق :دافعال متصرفه څخه مراد هغه افعال دي چي د دوي دپاره واحد تثنیه او جمع راځي لکه ماضي او مضارع امر.

(۳۔ فائده:)

د فعل د متعلقاتو څخه شپږ اسماء مشتقه اومصدرمراد دي:۱- اسم فاعل.۲۔ اسم مفعول.

۳- صفت مشبه.۴۔ اسم تفضیل.۵۔ اسم ظرف. ۶۔ اسم آله.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴ـ فائده :)

د پنځم شرط متعلق: د فعل حقيقی او حكمي تعريف مخكي وګوري.

(۵ـ فائده:)

د نهم شرط متعلق: تحويل او تمييز دا دوړاه د تفعيل د باب مصادر دي د يقول په قانون سره

تحويل او تمييز ځندي جوړ سول ، بيا د تحوويل څخه د ميعاد په قانون تحييل جوړيږي او بيا دوو ياګانو په مابين كي التقاء ساكن راځي اوله ياء دمده والي په وجه حذ ف كيږي نو تحيل او تميز ځني جوړيږي ليكن دي د دغه اعلا ل په صورت كي د مشهور فعل تبيع هموزن ګرځي په دي سبب پدوي كي د يقول قانون نه جاري كيږي.

قوله: ود را دور او اَعْيَنٌ اعلال نكرد ند زيراكه نه فعل ست او نه متعلق فعل الخ :

ترجمه: په "اَدور" او "اعين" كي اعلا ل وه نه كي ځكه چي نه فعل دى او نه متعلق د فعل دي او په "ترمي" او" رمي" او "يدعو" كي حركت د ياء او واو مخكي حرف ته يي نه كي ور ځكه چي دا په طرف كي دي او په "جهور" او "يحيي" او" يستحيي" كي د واو او ياء حركت مخكي حرف ته نه كي ور ځكه چي د دوي په اصل كي چي ما ضي معلوم ده سالم پاته سوي دي او په "قوي" كه د واو حركت يي مخكي حرف ته نه كي ور ځكه چي مخكي حرف يى مفتوح دي (الا د پاره د استدراک دي د مخكي عبارت څخه د پيدا سوي توهم) دي وايي دغه نقل د حركت ومخكي حرف ته په ما ضي كي دا سي ما ضي چي حرف علت يي مكسور وي او مخكي حرف يي مضمومه وي لازم نه دي بلكي جائز دي او دغه ركم حذ ف د حركت او اشمام د واو هم پكښي جائز دي، او په اشمام كي به يي ته وايي د"قيلَ " څخه " قُيْلَ" او په حذ ف كي به يى ته وايي "قول" او په اشمام كي به يي ته وايى د "بيع" څخه "بُيْعَ" او په حذف د حركت كي به يي ته وايى" بُوْعَ" ما سوي د دغه ما ضي مجهولي څخه په نور وكي نقل د حركت وماقبل ته واجب دي.

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د دو شيانو :۱ـ تحقيق.۲ـ سوال او جواب:

اول بحث تحقيق: مصنف چي كله د قانون د اجراء څخه فارغ سو نو شروع يي وكړل په فوا ئدو د شرطو مذ كوره په قانون كي:د "ادورٌ، او اعينٌ"

ادورٌ " جمع د "دار" ده په معنی د سراي او کور او قبيلي ، او "اعينٌ" جمع د"عين" ده په معنی د سترګو او د زنګاو د تيکي او د لمر تيکي او جاسوس او غيره ته وايي په دي کي ځکه اعلا ل نه دي کړي چي دا نه فعل دي او نه متعلق د فعل دي.

دوهم بحث سوال او جواب:

سوال: په "يرميْ ،او رُمیَ ،او يدعُوْ " کي دي ولي اعلا ل نه دي کړي؟

الجواب: ځکه د ا په طرف کي دي په وسط کي نه دي.

سوال: په "جَهْوِرَ" او "يُحْيِيْ" او "يَسْتَحْيِيْ" او "مُحْيِيْ" کي ولي اعلا ل نه دي کړي؟

الجواب: ځکه د دوي په ما ضي کي اعلا ل نه دي سوي يعني په ما ضي معلومه کي هغه اصل ده په اعلال کي.

سوال: په "قوي" کي دي ولي اعلا ل نه دي کړي؟

الجواب: ځکه مخکي حرف د واو مفتوح دي.

سوال: مصنف نقل د حرکت وما قبل ته مطلق ذ کر کړي دي نه په قيد مقيد د وجوب او نه په قيد د جواز سره نو کم شي چي مطلق ذ کر سي د هغه انصراف وفرد کا مل ته کيږي او فرد کا مل يی وجوب دي نو په د غه مخکي مذ کورو مثالو کي به نقل د حرکت وا جب وي؟

الجواب: دا سي نه دي بلکي په هغه ما ضي کي چي حرف علت يي مکسور وي او مخکي حرف د حرف علت مضمومه وي په هغه کي وا جب نه دي بلکي په هغه کي دري طريقي جا ئز دي:١ـ نقل حرکت.٢ـ حذ ف حرکت.٣ـ اشمام. ما سوي د دغي ما ضي څخه په نورو کي وا جب دي.

نوټ: "جَهْوِرَ" د دحرج د باب ما ضي مجهوله ده "يحيی" د کرم د باب مضارع ده "يستحيی" د استفعال د باب مضارع معلومه ده .

نوټ: "محيی" د "اکرم" د باب اسم فاعل دي.

قوله: يقال دراصل يقول بو ده ست الخ :

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : يقال په اصل کي "يُقْوَلُ" ده او د واو حرکت يي مخکي حرف ته چي قاف دي ورکي واو يي په الف بد ل کي" يقالُ" سو قانون يی قاعده هرواو او ياء چي مفتوح وي او د فعل تعجب ما سوي د عين پر کلمه وي او په ما بين کي د دو ساکنين چي لازم وي سکون د دوي لفظاً يعني دواړه ساکنين ملفوظ وي او يا تقد يراً يعني يو د دي ساکنين څخه مقد ر وي، نه وي راغلي، او په لام کلمه کي به يي اعلال نه وي سوي او په اصل کي چي ما ضي معلومه د ثلاثي مجرد ده سالم نه وي پاته او د اسم کله به يي پروزن د افعلُ نه وي او مخکي به يي دا سي ساکن حرف وي چي ښکاره هم وي اوقابل د حرکت هم وي د دغه واو او ياء حرکت نقل که و دغه ساکن حرف ته يي ورکه او واو او ياء الف وګرځوه نو مثال يی "يُقَالُ، او يُباعُ" سوه.

نوټ:يويشتم قانون:

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه څلورو شيانو :۱ـ د قانون حکم.۲ـ د قانون شرايط.۳ـ امثله.۴ـ فوائدي.

اول او دوهم او دريم بحث:

(۲۱ـ د يُقَالُ يُبَاعُ قانون :)

د دي قانون د پا ره يوحکم او د يارلس شرطونه دي:

حکم:دواو اوياء حرکت نقل کول اوماقبل ته ورکول او واو اوياء په الف سره بدلول واجب دي.

۱ـ شرط: وو او اوياء به د کلمي په مابين کي وي ،احترازي مثال: يدعويرمي دي.

۲ـ شرط: دواړه به مفتوحه وي ،احترازي مثال: يقول او يبيع دی.

۳ـ شرط:دواړه به په داسي کلمه کي وي چي په ماضي کي اعلا ل سوي وي ،

احترازي مثال:يعور او يصيد دي.

۴ـ شرط: دواړه به په فعل متصرف او يا د فعل متصرف په متعلقاتو کي وي ،

احترازي مثال: ما اقوله دي.

۵ـ شرط: د دوي دواړو ماقبل به حرف صحيح وي،احترازي مثال: قاول بايع دی.

۶ـ شرط: د دوي ما قبل به ساکن وي ،احترازي مثال: قول بيع دي .

۷ـ شرط:دواړه به ښکا ره وي ،احترازی مثال: قول بيع دي.

۸ـ شرط:دواړه به په اسم کي دافعل پر زون باندي نه وي، احترزي مثال:اقول دي.

۹ـ شرط: دواړه به په ملحقه کلمه کي نه وي ،

احترازي مثال:جهور شريف دي.ځکه دغه کلمات د دحرج ملحقات دي.

۱۰ـ شرط:دواړه به په داسي کلمه کي نه وي چي هغه درنګ په معنی سره وي،

احترازی مثال:اسود ابيض دي.

۱۱ـ شرط:دواړه به په داسي کلمه کي نه وي چي هغه دعيب په معنی سره وي،

احترازی مثال:اعور اعين دي.

۱۲ـ شرط:دواړه به داسم الي په صيغه کي نه وي اوياپه بله معنا د دووحقيقي او حکمی ساکنانو په مابين کي به نه وي،احترازي مثال:مقوال دي.

۱۳ـ شرط:دواړه به په داسي کلمه کي نه وي چي د قانون ترجاري کيدو وروسته د مشهور فعل همزون راسي، احترازي مثال:اقوال دي.

اتفاقي مثال: ديقول او يبيع څخه يقال او يباع ويل واجب دي.

امثله:تُقَالِيْنَ، اَقَامَ، تَشَاوُوْنَ، اَعَانَ، مُرَادٌ، يُغَاثُ،مُقَامُوْنَ، يُطَفْنَ،لِيُفَاقُوْا..

څلرم بحث فوائدي:

(فائده:)

د دولسم شرط متعلق:سوال: تاسو وويل چي بين الساکنين راتلل مانع د تعليل څخه دي ليکن زه داسي يو څو مثالونه پيش کوم چي دبين ساکنين باوجود هم قانون جاري سوي لکه :

Maktaba Tul Ishaat.com

اقوام او استقوام؟

جواب: دا دواړه مصادر دي اودا قانون دي چې مصادر په اعلا کې دفعل تابع دي نود دي په فعل کې چې اقام او استقام دي اعلا ل سوي دي نوپه دوي کې هم وسو.

سوال: يقلن او تقلن په اصل کې يقولن او تقولن وه دامصادر هم نه دي اوبين ساکنين باوجود بيا هم قانون جاري سوي دي؟

جواب: په دوي کې دلام سکون عارضي دي ګويا دلام کلمه په حقيقت کې متحرکه ده .

قوله : ومَشْوَرَةٌ او مَرْيَمٌ شاذ است وأعان واستعان الخ :

ترجمه: په مشورة او مريم کې اعلا ل ونه کې ځکه دا شاذ دي يعني خلا ف القياس دي "اعان" په اصل کې "اعون" وو او د"استعان" اصل "استعون" وو او د "معان" اصل "معون" وو او "مستعان" اصل مستعون" وو او په "ماقوله، او اقول به" کې اعلا ل نه دي کړي ځکه دا فعل تعجب دي او" خلوة ،او حلية" کې اعلال نه دي کړي ځکه دعين پر کلمه نه دي راغلي او د "احوالٌ" څخه تر "ابياتٌ " پوري په دغو صيغو کې اعلا ل نه دي کړي ځکه چې د لته واو د دوو ساکنينو په ما بين کې وا قع دي چې يوالف دي او بل د فاء کلمه لازمي او لفظي دي او په "مقولٌ" کې اعلا ل نه دي کړي ځکه چې د دي اصل "مِقْوَالٌ " وو واو د دوو ساکنينو په مابين کې واقع دي "لزوماً تقد يراً

او په "يَقُلْن او لم يقلْ" کې اعلا ل کړي دي ځکه چې لام سکون عارضي دي ځکه چې په اول کې داتصال د ضمير مرفوع متصل په وجه او په دوهم کې د حرف جازم په وجه او دغه سکون ته اعتبار نسته او په اغاثة او استغاثة کې چې اصل يې "اِغْوَاثَ او اِسْتَغْوَثَ" وو اعلال وکې د پاره د موافقت د خپل فعل سره ځکه فعل اصل دي په اعلال کې که څه هم ما نع موجود دي او په" اَسْوَدُ" او "اَبْيَضُ" کې ځکه اعلا ل نه دي کړي چې ا سم يې پروزن د"اَفْعَلُ" دي او په "اَحْىٰ او ، اسْتَحى" او "اِسْتَهْوىٰ" کې اعلال نه دي کړي ځکه چې د دوي دلام په کلمه کې اعلال سوي دي او په "اِجْلَوَزَ" کې ا علال نه دي کړي ځکه چې ما قبل د دي ساکن مدغم دي او بنکاره نه دي او په "قَاوَلَ، او تَقَاوَلَ، کې اعلا ل نه دي کړي ځکه چې د دوي په اصل کې اعلا ل نه دي سوي نو د دي وجهې يې ته وايي "اعار" په نيز د هغه چاچې دي وايي "عار" يعني په اصل کې اعلال بولي او "اعور" يې واو يې د هغه چاپه نيز چې "عور" يې وايي يعني چې په اصل کې اعلال نه بولي .

تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د سوالو جوابو:

سوال: په مشورة او مريم کي خو قانون ټول شرائط موجود دي نو بيا ولي اعلا ل پکښي وه نه کي؟

الجواب: دا شاذ دي او په شاذ سره قانون او قاعده نه ما تيريږي.

سوال: په ما "اقوله واقول به " کي دي ولي اعلال نه دي کړي سره د دي چي د قانون شرائط پکښي دي؟

الجواب: د قانون په شرائطو کي يوشرط دا هم وو چي د فعل تعجب صيغي به نه وي دا ده د فعل تعجب صيغي دي نو ځکه مو اعلال پکښي وه نه کي چي د قانون شرط چي عد مي وو هغه پکښي دي.

سوال: په "خَلْوة" او "حلية" کي دي ولي اعلال ونه کي سره د دي چي د قانون شرائط پکښي دي؟

الجواب: د قانون په شرائطو کي دا هم يوشرط وو چي دغه واو او ياء به د عين پر کلمه وي او د لته دعين پر کلمه باندي نه دي نو ځکه مو اعلا ل پکښي وه نه کي؟

سوال: د "احول" څخه تر "ابيات" پوري په مذ کورو صيغو کي مو ولي اعلال وه نه کي سره د دي چي دقانون شرايط پکښي دي؟

الجواب: د قانون په شرائطو کي دا هم يو شرط وو چي دغه واو او ياء به د دوو ساکنينو لازمينو په مابين کي نه وي او د لته د دووساکنينو لازمينو په ما بين کي وا قع دي او بله دا وجه هم ده چي بيا يي د نورو صيغو سره التباس را تلي او د غه سکون د لته د دواړو سا کنينو لفظاً دي.

سوال: په " مِقْول" کي دي ولي اعلال نه دي کړي؟

الجواب: واو د دوو ساکنينو په ما بين کي وا قع دي چي د لته سکون د دي ساکنينو تقد يراً دي يعني مراد د تقد يري څخه سکون د يوه دي چي هغه الف دي چي اصل يى "مقوالٌ" دي.

سوال: په "يقلن ،او لم يقل" کي دي ولي اعلا ل وکي او سره د دي چي دغه واو د دوو ساکنينو په ما بين کي وا قع دي؟

الجواب: دغه سکون دلام د لته عا رضي دي يعني دعارض په وجه دي چي هغه په" يقلن" کي اتصال د نون دي چي ضمير مرفوع متصل دي او په "لم يقل" کي د خول د جا زمه دي.

سوال: په "اغاثة، او استغاثة" کي دي ولي اعلال وکي سره د دي چي ما نع مو جود دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب: ځکه د ا مصدرونه دي او په فعل کي اعلا ل سوي دي او مصدر فرع د فعل دي په اعلال کي نو د موافقت د پاره مو اعلال پکښي وکړي.

سوال: په "اسود، او ابيض " کي دي ولي اعلال نه دي کړي؟

الجواب: د قانون په شرائطو کي يو شرط دا هم وو چي د غه واو او ياء به په دا سي کلمي کي نه وي چي هغه په معنی د الوانو رنګو سره وي او د لته يي دغه عدمي شرط پکښي دي نو ځکه مو اعلال پکښي وه نه کړي.

سوال: په "احيیٰ ، او استحيي ،او استهوی" کي دي ولي اعلال نه دي کړي او سره د دي چي د قانون شرائط پکښي دي ؟

الجواب: ځکه چي دلام په کلمه کي اعلال سوي دي.

سوال: په "اجلوز" کي مو ولي اعلال نه دي کړي او سره د دي چي د قانون شرائط پکښي دي ؟

الجواب: د قانون يو شرط پکښي نسته چی هغه دا وو چي ساکن به مظهر وي او د لته مظهر نه دي.

سوال: په "قاول، او تقاول" کي مو ولي اعلال نه دي کړي؟

الجواب: د واو مخکي ساکن د حرکت قابل نه دي ځکه الف ساکن وضعي دي.

سوال: په "اعور، او استعور" کي مو ولي اعلال نه دي کړي؟

الجواب: ځکه د دوي په اصل کي اعلال نه دي سوي.

سوال: د دغه عبارت په مطلب پوه نه سوم چي فلذا لک تقول اعار الخ؟

الجواب: د دي مطلب دا دي چي مزيد د اعلال د پاره د مجرد اعلال شرط دي او د"اعور" په مجرد کي دوه مذهبونه دي:۱ـ مذهب والا: اعلال کوي او ته يي پر دغه مذهب مزيد ووايه "اعار".

۲ـ دوهم مذهب والا يي: په مجرد کي اعلال نه کوي نو ته يي پر د غه مذهب مزيد ووايه "اعور" بلا اعلال.

نوټ: "اعان" په اصل کي "اَعْوَنَ" وو د اکرم فعل معلوم ده.

نوټ: "معان" په اصل کي "مُعَانٌ" وو د اکرم د باب اسم مفعول دي او "مستعانٌ "په اصل کي "مستعونٌ" د استفعال د باب اسم مفعول دي.

نوټ: "مِقْوالٌ" صيغه د اسم آلي ده يا د مبالغي باقي اسم جا مد او يا اسم مصدر جمع دي.

نوټ: "احيى، اعور" د اکرم د باب ما ضي دي "استحى، استهوى ،استعور" د استفعال د باب ما ضي دي "قاول" د ضارب د باب ما ضي ده "تقاول" د تضارب د باب ما ضي دي "اجلوز" د افعوَّل د باب ما ضى دي.

قوله : قائلٌ د راصل قاولٌ بود واو را بهمزه بد ل کرد ند قائلٌ شد الخ:

ترجمه: قائل په اصل کي قاولٌ وو واو يي په همزه سره بد ل کړي قائل سو قاعده دا ده هر واو او يا چي وروسته تر الف د اسم فاعل راسي او په اصل کي په سلا متيا نه وي پاته دغه واو او ياء په همزه بد ل کړه، مثال" قائلٌ، او بائعٌ" او په "مقاولٌ، او مبايعٌ" کي واو او ياء په همزه بد ل نه کړل ځکه چي د دوي په اصل کي واو او ياء سالم پاته دي نوهم په د غه وجه ته وايي په "عائرٌ" او "عاورٌ" بنا براختلاف د قولينو يعني چي د اسم فاعل د اعلال د پاره د فعل اعلال شرط دي او که نه .

دويشتم قانون تشريحات: د لته لابدي ده د پيژند لو څخه د درو شيانو:١ـ د قانون حکم.٢ـ شرائط.٣ـ امثله.

اول اودهم او دريم بحث:

(٢٢ـ قائل او بائع قانون:)

د دي قانون د پاره يوحکم اودوه شرطونه دي:

حکم:واواوياء په همزه سره بدلول واجب دي.

١ـ شرط:واو اوياء به د فاعل ترالف وروسته وي ،احترازي مثال:قول بيع.دي.

٢ـ شرط: واو او ياء په اصل يعني ماضي کي به سا لم نه وي،

احترازي مثال:عاور اوصايد دي د دوي په اصل کي چي عور صيد دي سالم دي.

اتفاقي مثال:دقاول بايع څخه قائل بائع ويل واجب دي.

امثله: جائزة ،زائلا ن، ذائقتان، قائلتان،خائفون،شائعون،حائج، سائقان،

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وكذا لک هر واوي وياي كه بعد ازالف مُفاعلٌ افتد وقبله الخ:

ترجمه: همده غه ركم هر "واو" او "ياء" چي وروسته تر الف د مفاعل را سي او مخكي تردغه الف د مفاعل حرف علت وي اوروسته تردغه واو او ياء چي د الف د مفاعل وروسته راغلي دي حرف ساكن به نه وي راغلي دغه واو او ياء په همزه سره بد له كړه مثال لكه: "اَوائل، او بوائع" او په معايشٌ ،او معاونٌ" كي ا علال نه دي كړي ځكه چي مخكي ترالف د مفاعل حرف علت نسته پوه سه اي طالبه چي دا مخكي والي د حرف شرط دي په اعلال كي د حرف علت اصلي او په زائد كي شرط نه دي نو د دي وجهي ته به وايي په "اَساوِدُ" په جمع د "اسوَدُ" كي او "جداول" او صحائف" او عجائز" په جمعه د"جدول" او صحيفة" او عجوزة" او طواويس" كي سالم پاته سوه ځكه چي وروسته تردغه واو حرف ساكن دي.

درويشتم قانون: تشريحات:د لته لابدي د ه د پيژند لو څخه د څلور شيانو:۱ـ تحقيق. ۲ـ د قانون حكم.۳ـ شرائط. ۴ـ امثله.

اول بحث تحقيق: وكذالک: د لته كه څه هم مصنف مطلق دا سي ويلي دي چي وروسته ترالف د فاعل او وروسته ترالف د مفاعل هغه عام تردي كه متصل وي اوكه منفصل وي ليكن د ا مقيد دي په قيد د اتصال په دواړو كي يعني دغه واو اوياء به ترالف د اسم فاعل او مفاعلي وروسته متصل وي .

او "معايش او معاون": په دي كي ځكه اعلال نه دي كړي چي ترالف د مفاعل مخكي حرف علت نسته.

بدا نكه تقد م حرف علت: دا عبارت جواب: د سوال مقدر دي

سوال: دا دي چي په" صحائف او، عجائزو" كي واو او ياء په همزه بدل سوي دي او سره د دي چي د لته مخكي ترالف حرف علت نسته ؟

الجواب: مصنف وركړي چي تقد م د حرف علت شرط دي په اعلال دهغه واو او ياء چي اصلي وي اوپه زائد كي شرط نه دي او په صحائف او عجائزو كي واو اوياء زائد دي.

او "طواويس": په دي كي ځكه اعلال نه دي كړي چي تر واو وروسته حرف ساكن دي .

دوهم اود ريم او څلرم بحث :

(۲۳ـ اَوَائلُ او بَوَاِعُ قانون)

ددي قانون يو حكم او دري يي شرطونه دي:

حكم: دادي چي واو او ياء په همزه سره بدلول واجب دي.

١ـ شرط: واو، او ياء، به وروسته ترالف د مفاعلي وي.

٢ـ شرط: ترالف د مفاعلى مخكي به حرف علت وي دا هلته كه چيري دغه حرف علت اصلي وي او كه چيري زائد وو بيا دغه تقد م شرط نه دي.

٣ـ شرط: تردغه واو او ياء وروسته به حرف ساكن نه وي.

اتفاقي مثال: داَوَاوِلُ، او بَوَايِعُ څخه اَوَائِلُ او بَوَائِعُ ويل وا جب دي.

امثله:خَيَايِرُ،عيايلُ.

قوله: اليائي منه باع يبيع فهو بائعٌ الخ:

ترجمه: اجوف ياي دا دي د "باع" څخه تراخر پوري "مبيعٌ"په اصل كي "مبيوعٌ" وو حركت د ياء نقل كړي ومخكي حرف ته يى وركړى لكه څنګه د "قيل" په قانون كي ذ كر سوه اوروسته ترنقل د حركت د ياء وما قبل ته نو حركت د مخكي حرف په كسره بد ل كړي د پاره د محافظت د ياء.

تشريحات: كله چي مصنف عليه رحمه د اجوف واوي د بيان څخه فارغ سو نويي شروع وكړل په اجوف ياي نومصنف وويل : قال اليائي منه" مبيعٌ" په اصل كي "مبيوع " وو صيغه د اسم مفعول ده د ياء حركت چي ضمه ده مخكي حرفته يي وركي ځكه ياء حرف علت ضعيف ده او ضمه حركت قوي ده لكه چي د "قيل" په قانون كي تير سوه .

(فائده :)

د حرف علت اسكان پوه سه اى طالبه چي اسكان د حرف علت پر شپز قسمه دي:١ـ اسكام محض:
تعريف: دا هغه دي چي حركت وغور ځوي بيله كم تغير مثال لكه:" يدعو، يرمي" .

٢ـ اسكان مع القلب :تعريف: دا هغه دي چي د اسكان سره اړول هم وي لكه : "جائني الداعي" چي اصل يي الداعو وو.

٣ـ اسكان مع النقل : تعريف: داهغه دي چي د حركت وما قبل ته نقل كړي لكه:" يقُوْلُ" او يبيعُ".

Maktaba Tul Ishaat.com

۴ـ اسکان مع النقل و السلب: تعریف دا هغه دي چي حرکت د ما قبل د هغه سلب کړي لکه :"یبیع" چي مخته تیرسوه.

۵ـ اسکان مع النقل والقلب: لکه:" یُقال او یباعُ".

۶ـ اسکان مع النقل والقلب والسلب: لکه:" قیل".

خد شه: د لته محشي لیکلي دي چي ما نحن فیه د پنځم قسم څخه دي لیکن دا د د ریم قسم څخه دي.

براي محافظت: د لته دغه حرکت د ما قبل د یاء که په کسره سره بد ل وي چي دا اجوف واوي اویاي فرق سره راسي.

قوله: وکذا لک هریاي که ساکن باشد وبجاي عین الخ:

ترجمه: همدغه رکم هریاي چي ساکنه وي او دعین د کلمي پرځاي وي او مخکي حرف یی ساکن وي ضمه په کسره نه کړي بد له بلکي یاء یي په واو بد له کړي د پاره د فرق د فعلی اسمي او فعلی صفتي په ما بین کي، او هرځاي چي دوه ساکنین یوځاي راسي یاء حذ ف که وروسته نو واو ساکن مخکي حرف یي مکسور دي دغه واو په یاء بد ل کړه لکه" مَبْیُوْعٌ" څخه " مَبِیْعٌ" سوه او امام سیبویه وایي چي دوم ساکن حذ ف کړه ځکه زائد ښه ترا حقدار دي په حذ ف کولو سره او مثال لکه "مَضْیفوْفَةٌ" او" مخیُوْ طةٌ" نادر دي یعني خلا ف القیاس دي.

تشریحات: د لته لابدي ده د پیژند لو څخه د څلور شیانو :۱ـ تحقیق .۲ـ د ځینو لغاتو حل.۳ـ دقانون حکم.۴ـ شرائط.۵ـ امثله.

اول بحث تحقیق: دوساکن بهم آمد ند: د دي عبارت تعلق د مصنف د مخکي عبارت سره دي هغه پر مخکي صفحه باندي دي هغه عبارت دا دي حرکت یاء رانقل کرده: وقیل دوم: د دي قول قائل امام سیبویه دي او دا اختلاف مخکي په تفصیل سر تیرسوي دي په بیان د"مَقُوْلٌ".

اما مثل "مْضیُوفة": مراد په مضیوفة سره هرهغه اسم مفعول اجوف یاي دي چي په هغه کي یاء سالمه پاته سوي وي.

دوهم بحث: د ځينو لغات حل: "بِيْضٌ": ډ ير سپيني ښځي ته وايى . "قسمة": تقسيم كول. "ضِيزىٰ": ظلم كول د ظالم نو معنى يي دا سوه چي ظالمانه تقسيم كول ."طوبى": د درختي نوم دي ." مضيوفة" ميلمستيا كول" مخيوطة" خياطي كول".

د ريم بحث:

(۲۴ـ د بِيْضٌ او ضيزى قانون دي:)

د دي قانون د پاره دوه حكمونه دي: او د اول حكم د پاره اوه شرطونه دي.او د دوهم حكم د پاره د شرطو دري جماعته دي او دهر جماعت اول څلور شرطونه د مخكي حكم په شان دي:

نوټ: د اول حكم بيان يي مخكي د زرادي په ۱۴ صفحه كي د يُوْقِنُ په قانون كي تيرسوي دي.

دوهم حكم: د ياء مخكي ضمه په كسري سره بد لول واجب دي.

۱ـ جماعت اول شرط: ياء به ساكنه وي .۲ـ شرط: ياء به مظهره وي.۳ـ شرط:دافتعال دباب دفاء پر كلمه باندي به نه وي.۴ـ شرط: مخكي حرف به يي مضمومه وي.۵ـ شرطش: دَاَفْعَلُ فُعْلاء صفتي په جمع كي به وي .

اتفاقي مثال: دبَيْضٌ څخه بِيْضٌ ويل واجب دي.

دوهم جماعت: اول شرط: ياء به ساكنه وي .۲ـ شرط: ياء به مظهره وي.۳ـ شرط:دافتعال دباب د فاء پر كلمه باندي به نه وي.۴ـ شرط: مخكي حرف به يي مضمومه وي.۵ـ شرط: په فُعْلى صفتي كي به وي .

اتفاقي مثال:دحُيْلى څخه حِيْلى او د ضُيْزى څخه ضِيْزى ويل واجب دي

۳ـ جماعت : اول شرط: ياء به ساكنه وي .۲ـ شرط: ياء به مظهره وي.۳ـ شرط:دافتعال دباب دفاء پر كلمه باندي به نه وي.۴ـ شرط: مخكي حرف به يي مضمومه وي.۵ـ شرط: د ثلا ثي مجرد د اجوف ياي په اسم مفعول كي به وي.

اتفاقي مثال:دمَبْيُوْعٌ څخه مَبْيُوْعٌ دقيل او بيع په قانون سره ويل جائز دي بيا مَبِيْوْعٌ په دغه قانون سره ويل واجب دي بيا مَبِوْعٌ دالتقاء ساكنين په قانون سره بيا مَبِيْعٌ د ميعادٌ په قانون سره ويل واجب دي.

قوله: ومن معموز الفاء آب يئوبُ" اوباً" الخ:

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: اجوف واوي د مهموز الفاء څخه راځي آب معنى د پخوا په زمانه کي وښ په رفتار کي د مخه پښي سره جنګولي يئوب د دي مخه پي به يي سره وجنګوي "اوباً" په جنګولو سره "آئِبٌ " دغه وښ پښي جنګونکي دي "أُبْ " پښي سره وجنګوه الخ .

تشريح: "اٰبَ" د نصر د باب ما ضي ده په اصل کي "أَوَبَ" وو اعلال يي دا دي واو مفتوح ما قبل يي هم مفتوح نو دغه واو د"قال" په قانون سره په الف سره بد ل سو "اٰب" سو "اٰ ئبٌ" اسم فاعل دي په اصل کي "أوِبٌ" وو بيا دغه واو ترالف د اسم فاعل وروسته راغلي د"قائلٌ او "بائعٌ" په قانون سره په همزه بد ل سو "اٰئبٌ" "جاء" ما ضي معلوم ده په اصل کي "جيئ" وو ياء متحرک ما قبل يي مفتوح د"قال" په قانون سره په الف بد ل سوه " يجيئ" په اصل کي "يجيئ" وو کسره پر ياء ثقيل وه نقل يي کړل ما قبل ته "يجيئُ" سوه "جيئ" په اصل کي "جُيِئَ" وو کسره پر يا ثقيل وه نقل يي کړل وما قبل ته "جيئ" سوه "يُجاءُ" مضارع مجهول ده په اصل کي "يجْيئُ" وو د "يقال" په شان اعلا ل پکښي وکړل سو هغه دا ركم چي حرکت د ياء نقل کړل سو ما قبل ته بيا ياء په اصل کي متحرکه وه په الف بد له سوه "يُجاء" سوه "مجْيُوْءٌ" وو په دي صيغه کي اختلاف دي د اخفش او سيبويه خو مذ هب د سيبويه ليکو هغه دا دي چي ضمه پر ياء باندي ثقيله وه ما قبل ته نقل کړل سوه بيا يو ځاي والي د دو ساکنينو راغي په ما بين د"ياء" او "واو" نو واو حذ ف کړل سو "مجيئٌ" سو بيا ضمه مخکي د ياء چي وه هغه په کسره سره بدل کړل د پاره د رعايت د ياء نو "مُجيْئٌ " سوه او اسم فاعل مو مخکي بيان کي چي د هغه اعلال مخکي هم ذ کر کړي دي په بيان د مهموز او بيا به يي وروسته شرح وليکو.

قوله: "جاءٍ" د راصل "جايِئٌ" ود رين دوقول ست اول آنکه یاء بهمزه بد ل کنند کما تقد م الخ:

ترجمه: "جاء" په اصل کي "جايِئٌ " وو او په دي کي دوه قول دي اول قول دا دي چي ياء په همزه بدل که لکه څنګه چي مخکي دا خبره د رته تير سوه په قانون د "قائلٌ " کي بيا خو دوي همزي متحرکي يو ځاي راغلي او يوه د دوي څخه مکسوره ده دوهمه په ياء بدل که لکه څنګه چي مخکي د "آئمة " په قانون کی تير سوه بيا اعلال د "قاضي" پکښي وکړه "جاءٍ" سو د غه قول د سيبويه دي دوهم قول دا دي چي دعين کلمه دلام ځاي ته ويسه او دلام کلمه دعين کلمي ته ويسه د وجهي د کراهت د يوځای والي دوو همزه ګانو دا قول د خليل دي وروسته اعلال د "قاضي" پکښي وه که "جاء" سو همدغه ركم په مثال د"خطايا" چي په اصل کير"خطايِئ " چي پر وزن د فعايل دي لکه څنګه چي دا قياس دي په جمع د "فعيلتٍ" کي بيا ياء په همزه واړه وه لکه څنګه چي "خطايِئُ" بيا دوهمه ياء په الف بدله کړل د وجهي د تحرک او د انفتاح د مخکي حرف "خطايا" سو لکه څنګه چي قياس په مثال د" مطايا" کي دي دغه قول د

سيبويه دي، او پر قول د خليل همزه د ياء ځای ته ويسه او ياء د همزي ځاي ته او بيا په دي دا سي فعل وکړه لکه څنګه دي په "مطايا " کي کړي وو وروسته تر اړول د اولي ياء په همزه سره او نور اعلال لکه د ما ضي او مضارع د نور هغه مذ کور قوانين څخه ياد که او تکرار ته کم ضرورت پکښي نسته.

(۲۵ـ د جَاءٍ قانون دي)

تشريح: د"جاء" قانون خو مخکي د مهموز په بيان کي ذ کر دي نو د لته قانون نه را ګرځوو صرف د ټول عبارت خلا صه ليکم : هغه دا ده چي په د رو سرو صورتو کي چي "جاءٍ" دي او "خطايئُ" دي او "مطايا" دي په دي کي دوه مذهب دي يود سيبويه دي دوهم د خليل:

اول مذهب دا دي چي: چي هغه بد لول دي د ياء چي هغه مخکي ترهمزي ده په همزي سره بيا دوي همزي سره يوځاي سي اويوه د دوي څخه مکسور وي نو دوهمه همزه په ياء بد ليږي نو په دغه درو سرو صورتو کي دوهمه همزه په ياء بد له سوه .

او مذهب د خليل دا دي : چي قلب مکاني وه که په ما بين د ياء او د همزي کي هغه دا چي ياء د همزي ځاي ته ويسه او همزه د ياء ځاي ته ويسه بيا نو په "جاء" کي اعلال د "قاضي" وکه "جاءٍ" سو،

فصار "خطائيُ: د لته بيا همزه يي مکسوره په ياء يي مفتوحه بد له که "خطايي" سوه بيا دوهمه ياء په الف بد له که "خطايا" سو دا قياس دي په جمع منتهي الجموع کي چي مفرد يي پر وزن د فعيلة وي .

ود يګر: دا د سوال جواب دي هغه سوال دا دي

سوال: چي د غه رکم اعلال خو د د غه باب په نور صيغو کي هم ووهغه دي ولي وه نه کي ؟

الجواب: مصنف ورکي چي هغه ته ضرورت نسته ځکه د مخکي قوانينو څخه يي إ زده کول اسانه دي.

قول: صرف خاف يخاف خوفًا:

تشريح: "خاف" ما ضي معلوم ده په اصل کي "خوِفَ" وو واو متحرک ما قبل يه مفتوح ووبدل سوه په الف سره همدغه رکم په نورو صيغو کي واو په الف بدل سو.

"خِفْنَ": جمع مؤنث ما ضي معلوم ده په اصل کي "خَوِفْنَ" وو واو متحکر مخکي حرف يي مفتوح واو بدل سو په الف سره نو "خافن" سو التقاء د ساکنينو راغله په ما بين د الف او د فاء کي الف ساقط سو نو "خِفْنَ" سو بيا فتحه د فاء په کسره سره بد له سوه نو "خِفْنَ" سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

"يخاف": مضارع معلومه ده په اصل کي "يخوفُ" وو حرکت د واو مخکي حرف ته ورکړل سو هغه واو چي په اصل کي متحرک وو نو ما قبل يي مفتوح وګرځيدي نو بد ل سو په الف سره نو "يخاف" سوه په همدغه رکم په ټولو صيغو کي اعلال کيږي .

"خيف": ما ضي مجهول ده په اصل کي "خوف" وو پر وزن د"سمع" وو کسره پر واو د رنه وه نو مخکي حرفته يي ورکړل نو "خِوْفَ" سو واو مخکي حرف يي مکسور په قانون د"ميزان" په ياء سره بدل سو نو "خيف " سوه .

"يخاف":مضارع مجهول ده په اصل کي" يُخْوَفُ" وو واو متحرک مخکي حرف يي صحيح ساکن حرکت د واو مخکي حرف ته ورکول سو هغه واو چي په اصل کي متحرک وو اوس يي ما قبل مفتوح ورګرځيدي نو بد ل سو په الف سره نو "يخافُ" سو ."خف" امر حاضر دي په اصل کي دوه قولونه دي : ۱ـ دا دي چي "خِفْ" د"تخافُ" څخه جوړ ولي سي چي حرف مضارعت حذ ف کي اول متحرک پاته سو نو همزه وصلي ته ضرورت نه وو کله چي دلام کلمه د وقف د وجي ساکن سوه يو ځاي والي راغي په ما بين کي د دو ساکنينو چي الف او فاء ده نو الف حذ ف سو "خِفْ"سو.

دوهم قول دا دي چي "خِفْ " د "تخوف" څخه جوړ ولاي سي چي حرف مضارعت حذف کړل سي نو ابتداء په ساکن راغله نو همزه يی وصليه مکسوره په اوله کي راوړل سو او په اخيره کي وقف وکړل سو"اِخْوَفْ" سو حرکت د واو ما قبل ته ورکړل سو" اِخَفْ" سو همزه استغناءًا حذ ف کړل سو نو "خَفْ" پاته سو .

سوال: تثنيه د ما ضي او د امر حا ضر او د جمع مذ کر د ما ضي او امرحا ضر او د جمع مؤنث د ماضي معلوم او جمع مؤنث د ما ضي مجهول کي التباس راغي او دا ناروا دي؟

الجواب: اوس موجوده حالت کي اګر که صورتا التباس معلوم ميږي ليکن فرق په اصل کي سر کولاي سي او د دوي معرفت په قرينه د سياق او سباق سره کيږي لکه "خافا" تثنيه د ما ضي په اصل کي "خوفاَ" وو او "خافا" تثنيه دامرحا ضر په اصل کي "اخوفا" و على هذا القياس غيره..

"ليخف" امر غائب معروف په اصل کي "ليخوفُ"وو. "لاتخف" نهي په اصل کي "تخوف" وو په دواړو کي حرکت د واو ما قبل ته ورکړل سو واو د التقاء ساکنين په وجي حذ ف کړل سو . "خوِفَ " د"سمع" د باب ما ضي ده . "هاب ، يهاب" د"علم، يعلم" د باب څخه دي "طال يطال"د نصر د باب څخه دي او که يي ضمه دعين په ما ضي کي وي نو بيا د"شرُف" د باب څخه دي دا هم قياس پر دا نو ردي.

قوله: وكذا الابواب المنشعبة چناچه ازباب افعال اغاث يغيث الخ:

ترجمه: همدغه ركم د ثلا ثي مزيد فيه بابونه پرقياس كه .

